افغان کرکټ
AFGHAN CRICKET

Afghanistan Cricket Board

شپږم کال، اتمه گڼه
سپتمبر - ۲۰۱۹ کال

بــریـــا د ټولو هیله

بانک اسلامی افغانستان
Islamic Bank of Afghanistan

اولین بـانک کـامـلاً
اسلامی در کشــور

2121

2121 www.ibafg.com info@ibafg.af

Afghanistan Cricket Board

ACB

د افغانستان کرکټ بورډ

د رسنیو او بازار موندنې څانګه

میاشتنۍ مجله

سپتمبر- ۲۰۱۹

مسوول مدیر: عبدالله خان پکتانی

لیکوالان او راټولوونکي:

نظیم جار عبدالرحیمزی، محمد فرید هوتک، بختیار ساحل،

رحمت دیوان او محمد نعمان اشرفي

عکس اخېستوونکي:

سید حسرت سادات او احمد خبیر فنا

ډیزاین: رضا مجیدي

بازار موندنه: نجي الرحمن عزیزي

media@afghancricket.af

AfghanistanCricketboardOfficial

@ACBOfficials

afghanistancricketboard

www.cricket.af

Kabul International Cricket Stadium Near Chaman-e-Huzoori, Khan Abdul Ghani Khan Road, Kabul Afghanistan

Shpageeza

Cricket League

لیکلړ

- یو ځل بیا ستره بریا ۱
- افغانستان په تاریخي ټېسټ لوبه کې بنګله دېش ته ماتې ورکړه ۲
- کرکټ ملي لوبډله ډک لاس هېواد ته راستنه شوه ۶
- د شپږیزه کرکټ لیګ د رامنځته کېدو خرنګوالی او تاریخچه ۱۰
- محمد نبي له ټېسټ لوبو استعفا وکړه ۱۶
- د ۱۹ کلنو کم عمره ځوانانو لوبډله له لاسته راوړنو سره هېواد ته راستنه شوه ۱۸
- مس عینک زون د غازي امان الله خان جام سیالیو اتلولي خپله کړه ۲۰
- رحمت شاه لومړنی افغان لوبغاړی چې ټېسټ سیالیو کې یې سلیزه ووهله ۲۶
- د ټېسټ سیالیو نړیواله اتلولي ۳۰
- لانس کلوزنر به حیث سرمربی تیم ملی کریکت تعین شد ۳۲
- د توپوهنې بڼې (Types Of Cricket Shots) ۳۶
- اکرمن په شل اوریز کرکټ کې کارنامه کړې ۴۳
- د روهیت شرما داسې ریکارډونه چې تر ویرات کوهلي ډېر مخکې دي ۴٤
- د کرکټ په نړۍ کې د زیات وزن لرونکي لوبغاړي ٤٦
- Need to play top oppositions more often: Rashid Khan ۵۱

سرمقاله

یو ځل بیا ستره بریا

افغان لوبډلې یو ځل بیا تاریخي بریا خپله کړه او د بنګله دېش لوبډلې ته یې په ټېسټ لوبه کې ماتې ورکړه چې دغه بریا د افغانستان لپاره یوه ستره لاسته راوړنه ده. افغان لوبډلې تر اوسه د ټېسټ سیالیو حق ترلاسه کولو وروسته درې ټېسټ لوبې کړې چې لومړۍ لوبه یې د هندوستان پر وړاندې ترسره کړه چې پکې یې له یاد هېواد ماتې ومنله او له هغه وروسته یې بیا د ایرلنډ او ورپسې د ۲۰۱۹ کال د سپټمبر میاشتې له پنځمې تر نهمې د بنګله دېش پر وړاندې ټېسټ لوبه ترسره کړه چې په دواړو سیالیو کې یې له سیالو لوبډلو بریاوې خپلې کړې.

د کرکټ په نړۍ کې د ټېسټ بڼه تر ټولو ستر اعزاز دی چې د کرکټ نړیوالې شورا له لوري غړي هېواد ته له ډېرو سختیو ګاللو او لاسته راوړنو وروسته ورکول کېږي چې دا ستر وياړ افغانستان ته هم ورکړل شوی چې پکې یې تر اوسه له درېیو دوه لوبې ګټلې دي چې دغه لاسته راوړنه د کرکټ د ټېسټ لوبو په تاریخ کې یوه ستره لاسته راوړنه ده.

سربېره پر دې افغان لوبډلې د بنګله دېش سفر په درې اړخیزه سیالیو کې هم ستره بریا خپله کړه او له بنګله دېش سره یې د درې اړخیزه سیالیو لوبلړۍ د باران له امله په مساوي ډول پای ته ورسېده. نو باید یادونه وشي چې افغان لوبغاړي ورځ تر بلې د پیاوړتیا په حال کې دي او بریاوې راوړي چې دغه کار د غوره ادارې او منجمنټ خرګندویه دی.

اداره

افغانستان په تاریخي ټېسټ لوبه کې بنګله دېش ته ماتې ورکړه

راشد خان، اصغر افغان، رحمت شاه او ابراهیم ځدراڼ هر یوه د افغانستان لپاره په زړه پورې توپوهنه او توپ اچونه ترسره کړه او افغانستان ته یې د بنګله دېش پر وړاندې په یوازینۍ ټېسټ لوبه کې ستره او تاریخي بریا ورپه برخه کړه. دا د افغانستان دریمه ټېسټ لوبه او د بنګله دېش سره بیا لومړۍ ټېسټ لوبه وه چې افغانستان پکې بریا خپله کړه، همدا راز راشد خان ته د ۱۱ ویکټو ترلاسه کولو له امله د لوبې د غوره لوبغاړي جایزه هم ورکړل شوه.

د افغانستان او بنګله دېش ترمنځ دغه یوازینۍ ټېسټ لوبه د سپتمبر په ۵مه نېټه د بنګله دېش په ظهور احمد چودري لوبغالي چټوګرام کې پیل شوه. پیل کې د لوبې پچه افغان لوبډلمشر راشد خان وګټله او لومړی یې د توپوهنې پرېکړه وکړه.

افغانستان په خپله لومړۍ پاڼۍ کې ۳۴۲ منډې وکړې چې له ډلې یې رحمت شاه ۱۰۲، اصغر افغان ۹۲، راشد خان ۵۱ او افسر ځاځي ۴۱ منډې وکړې.

رحمت شاه د افغانستان لومړنی توپوهونکی شو چې په ټېسټ سیالیو کې یې سلیزه ووهله، همدا راز راشد خان هم په ټېسټ سیالیو کې خپله لومړۍ پنځوسیزه او اصغر افغان بیا دویمه پنځوسیزه ووهله.

د بنګله دېش له لوري تېجل اسلام ۴، شکیب الحسن او نعیم حسن ۲-۲ لوبغاړي وسوځول.

بنګله دېش په خپله لومړۍ پاڼۍ کې ۲۰۵ منډې وکړې چې له ډلې یې مومن الحق ۵۲، مصدق حسین ۴۸ ناسوځېدلي او لیټون داس ۳۳ منډې وکړې.

د افغانستان له لوري راشد خان او محمد نبي ډېره په زړه پورې توپ اچونه ترسره کړه او د بنګله دېش توپوهونکي یې پرې نه ښودل چې ډېرې منډې وکړي، همدا راز راشد خان ۵، محمد نبي ۳، یمین احمدزي او قیس احمد ۱-۱ لوبغاړی وسوځاوه.

د افغانستان په دویمه پاڼۍ کې که څه هم د پیل توپوهونکی احسان الله جنت او وروسته رحمت شاه ونه توانېدل چې ډېرې منډې وکړي، خو ابراهیم ځدراڼ او اصغر افغان په زړه پورې توپوهنه ترسره کړه او افغانستان یې د یو ښه هدف په لوري بوته.

افغانستان په دویمه پاڼۍ کې ۲٦۰ منډې وکړې چې له ډلې یې ابراهیم ځدراڼ ۸۷، اصغر افغان ۵۰ او افسر ځاځي ۴۸ ناسوځېدلي منډې وکړې.

ابراهیم ځدراڼ په خپله لومړۍ لوبه کې پنځوسیزه ووهله، همدا راز اصغر افغان په دویمه پاڼۍ کې هم پنځوسیزه ووهله او په همدې سره یې په ټېسټ لوبو کې درې پنځوسیزې شوې.

د بنګله دېش له خوا شکیب الحسن ۳، مهدي حسن، تېجل اسلام او نعیم حسن ۲-۲ لوبغاړي وسوځول. افغانستان په پای کې د بنګله دېش لوبډلې ته د ۳۹۸ منډو هدف وټاکه چې بنګله دېش د څلورمې ورځې تر پای پورې ۱۳٦ منډې وکړې او ٦ لوبغاړي یې له لاسه ورکړل.

په څلورمه ورځ د باران د ورښت له امله لوبه په ډېر ځنډ سره پیل شوه، څکه تر نیمایي ډېره ورځ د باران له امله لوبه ونه شوه او د افغانستان لپاره مهمه دا وه چې لوبه ترسره شي.

همدا وه چې د باران له درېدو وروسته لوبه پیل شوه او پاتې څلور ویکټو کې ۳ راشد خان او ۱ ویکټ ظاهر خان واخیسته او د بنګله دېش لوبډلې ټول لوبغاړي یې په ۱۷۳

منډو وسوځول. افغانستان په خپله دریمه ټېسټ لوبه او له بنګله دېش سره په لومړۍ ټېسټ لوبه کې د بنګله دېش لوبډلې ته په ۲۲۴ منډو ستره او تاریخي ماتې ورکړه او په درې ټېسټ سیالیو کې یې خپله دویمه ټېسټ سیالي هم په خپل نوم کړه.

په دویمه پاټۍ کې شکیب الحسن ۴۴، شادمان اسلام ۴۱ او مشفیق الرحیم ۲۳ منډې وکړې، خو د افغانستان له خوا بیا راشد خان ٦، ظاهر خان ۳ او محمد نبي یوه ویکټ واخیسته.

د لوبې د غوره لوبغاړي جایزه راشد خان ترلاسه کړه چې نوموړی لومړنی افغان توپ اچونکی شو چې په ټېسټ سیالۍ کې یې ۱۰ ویکټې ترلاسه او د وروستۍ ویکټې په ترلاسه کولو سره یې ۱۱ ویکټې کړې. همدا راز په دې ټېسټ سیالیو کې تر ټولو زیاتې منډې اصغر افغان وکړې، نوموړي په دوه پاټیو کې ۱۴۲ منډې ترسره کړې، له هغه وروسته بیا ابراهیم ځدراڼ ۱۰۸ او رحمت شاه ۱۰۲ منډې وکړې.

له لوبې وروسته راشد خان په خپلو خبرو کې وویل چې ځوان لوبغاړي ښه وځلېدل او دا زموږ لپاره ښه خبره ده، موږ سره په دې لوبه کې درې ځوان لوبغاړو په لومړي ځل ټېسټ لوبه ترسره کړه او ثابته یې کړه چې د افغانستان لپاره سترې لاسته راوړنې لرلی شي.

نوموړي همدا راز زیاته کړه چې په شل اوریزو لوبو کې موږ ډېر ښه یو، خو اوس مو ثابته کړه چې په ټېسټ لوبو کې هم موږ وړتیا لرو او سترې لوبډلې ماتولای شو.

نوموړي وویل چې دا د محمد نبي وروستۍ لوبه وه، هغه ډېره ښه لوبه ننداري ته وکړه او د افغانستان لوبډلې لپاره محمد نبي ډېرې لاسته راوړنې لري.

همدا راز راشد خان د سیالۍ ټرافي هم په افتخاري ډول محمد نبي ته ډالۍ کړه.

د یادولو ده چې د ابراهیم ځدراڼ، ظاهر خان او قیس احمد دا لومړۍ لوبه وه، چې

ابراهیم ځدراڼ ۱۰۸ منډې وکړې، ظاهر خان بیا ۳ او قیس احمد ۱ ویکټ ترلاسه کړه.

په ټېسټ سیالۍ کې د افغان لوبغاړو ریکارډونه:

۱: رحمت شاه لومړنی افغان توپوهونکی شو چې په ټېسټ سیالیو کې یې سلیزه ووهله.

۲: راشد خان د ټېسټ سیالیو تر ټولو کم عمره لوبډلمشر شو چې ټېسټ سیالي ترسره کوي او همدا راز ټېسټ سیالۍ کې بریا خپلوي.

۳ : راشد خان د افغانستان لومړنی توپ اچونکی شو چې په ټېسټ سیالیو کې یې تر ۱۰ ډېرې ویکټې ترلاسه کړې.

۴ : راشد خان تر عمران خان او الان باډر وروسته د ټېسټ سیالیو دریم لوبډلمشر شو چې په یوه ټېسټ سیالۍ کې یې پنځوسیزه او تر ۱۰ ډېرې ویکټې ترلاسه کړې.

۵ : راشد خان په ټېسټ سیالیو کې خپله لومړۍ پنځوسیزه ووهله.

٦ : ابراهیم ځدراڼ په خپله لومړۍ ټېسټ لوبه کې پنځوسیزه ووهله.

۷ : افغانستان تر اسټرالیا وروسته دویمه ټېسټ لوبډله شوه چې له خپلو درې سیالیو یې دوه سیالیو کې بریا خپله کړه.

۸ : اصغر افغان په یوه ټېسټ سیالۍ کې دوه پنځوسیزې ووهلې او ټولې پنځوسیزې یې ۳ شوې.

۹ : بنګله دېش یوازینۍ ټېسټ لوبډله شوه چې له هر هېواد څخه یې خپله لومړۍ ټېسټ سیالۍ کې ماتې خوړلې.

۱۰ : افغانستان د ټېسټ سیالیو په یوه پاټۍ کې تر ټولو زیاتې ۳۴۲ منډې وکړې چې تر دې مخکې یې ۳۱۴ د ایرلنډ پر وړاندې کړې وې.

۱۱ : ظاهر خان په خپله لومړۍ ټېسټ لوبه کې ۳ لوبغاړي وسوځول.

کرکټ ملي لوبډله ډک لاس هېواد ته راستنه شوه

د بنگله دېش پر وړاندې د ټېسټ لوبې ستره بریا مو مبارک شه!

د افغانستان کرکټ ملي لوبډله له بنگله دېش او زمبابوې سره تر درې اړخیزه شل اوریزو او له کوربه هېواد سره تر یوازېنۍ ټېسټ سیالۍ وروسته د سپټمبر په ۲۵مه نېټه هېواد ته راستنه شوه.
په دغه سفر کې افغان ملي لوبډلې د کوربه بنگله دېش لوبډلې سره یوازېنۍ ټېسټ لوبه ترسره کړه چې افغان لوبډلې پکې ستره او تاریخي بریا خپله کړه، همدا راز د درې اړخیزه سیالیو پایلوبه د باران ورښت له امله بې پایلې پای ته ورسېده او لوبلړۍ د افغانستان او کوربه لوبډلو ترمنځ مساوي اعلان شوه. دا سفر د ځوان لوبغاړو لپاره هم له لاسته راوړنو ډک و چې په دې لړ کې رحمن الله گربز په خپل لومړي نړیوال شل اوریز سیریز کې د لوبلړۍ د غوره لوبغاړي جایزه هم ترلاسه کړه.

افغانستان د زمبابوې پر وړاندې (۱۴ سپټمبر):

افغانستان د درې اړخیزه شل اوریزه سیالیو په لومړۍ لوبه کې د بنگله دېش لوبډلې ته په ۲۸ منډو ماتې ورکړه.
دغه لوبه چې د بنگله دېش په شېر بنگله کرکټ لوبغالي کې ترسره شوه، پچه یې زمبابوې لوبډلې وگټله او لومړی یې افغان لوبډلې ته د توپوهنې بلنه ورکړه. افغان لوبډلې په ټاکلو ۲۰ اوورونو کې د ۵ ویکټو په سوځېدو ۱۹۷ منډې وکړې چې نجیب الله ځدراڼ ۶۹ ناسوځېدلې، رحمن الله گربز ۴۳، محمد نبي ۳۸، اصغر افغان او نجیب الله تره کي ۱۴-۱۴ او حضرت الله ځاځي ۱۳ منډې جوړې کړې. دا د رحمن الله گربز لومړۍ نړیواله شل اوریزه لوبه وه چې هغه پکې د افغان لوبډلې استازولي کوله.
د زمبابوې له لوري چټارا او شان ویلیمس دوه ـ دوه ویکټې ترلاسه کړې.
د ۱۹۸ منډو د هدف په تعقیب کې د زمبابوې لوبډلې په ټاکلو ۲۰ اوورونو کې د ۷ لوبغاړو په سوځېدو ۱۶۹ منډې وکړې چې له ډلې یې چکابوا ۴۲ ناسوځېدلې او برینډن ټایلر ۲۷ منډې وکړې.
د افغانستان له لوري راشد خان او فرید ملک ۲-۲، گلبدین نایب او کریم جنت ۱-۱ ویکټ ترلاسه کړه. همدا راز په دغه لوبه کې د افغان توپوهونکو له لوري ۱۵ شپږیزې ووهل شوې چې نجیب الله ځدراڼ ۶ او محمد نبي ۴ شپږیزې ووهلې. افغان لوبډلې په ۲۸ منډو بریا خپله کړه او د لوبې د غوره لوبغاړي جایزه نجیب الله ځدراڼ ته ورکړل شوه.

افغانستان د بنګله دېش پر وړاندې (۱۵ سپتمبر):

افغانستان خپله دویمه شل اوریزه لوبه له بنګله دېش سره ترسره کړه چې په ۲۵ منډو یې بریا خپله کړه.

په پیل کې پچه افغان لوبډلمشر راشد خان وګټله او لومړی یې د توپوهنې پرېکړه وکړه. افغانستان په ټاکلو ۲۰ اورونو کې د ٦ لوبغاړو په سوځېدو ۱٦٤ منډې وکړې چې له ډلې یې محمد نبي ۸٤ ناسوځېدلي او اصغر افغان ٤۰ منډې وکړې.

د بنګله دېش له لوري محمد سیف الدین ۴ او شکیب الحسن ۲ لوبغاړي وسوځول.

د ۱٦٥ منډو د هدف په تعقیب کې د بنګله دېش ټوله لوبډله په ۱۹.۵ اورونو کې وسوځېدله او ۱۳۹ منډې یې وکړې چې له ډلې یې محمود الله ۴۴ او شبیر رحمن ۲۴ منډې وکړې. د افغانستان له لوري مجیب الرحمن ۴، فرید احمد، راشد خان او ګلبدین نایب ۲-۲ لوبغاړي وسوځول.

افغانستان په ۲۵ منډو بریا خپله او محمد نبي د غوره لوبغاړي جایزه ترلاسه کړه.

دا د افغانستان ۱۲مه نړیواله شل اوریزه لوبه وه چې پرلپسې بریا یې پکې خپله او خپل پخوانی د ۱۱ لوبو پرلپسې د بریا ریکارډ یې مات کړ. تر دې مهاله پورې بلې هیڅ لوبډلې دومره لوبې په پرلپسې ډول نه دي ګټلې.

همدا راز محمد نبي بیا په شل اوریزو لوبو کې ۱۲ ځلې د غوره لوبغاړي جایزه ترلاسه کړه، تر دغه مهاله پورې بل هیڅ لوبغاړي په شل اوریزو لوبو کې ۱۲ ځلې د غوره لوبغاړي جایزه نه ده ترلاسه کړې.

افغانستان د زمبابوې پر وړاندې (۲۰ سپتمبر):

افغانستان له زمبابوې لوبډلې سره په خپله دویمه سیالۍ کې د لوبې پچه وګټله او لومړی یې د توپوهنې پرېکړه وکړه.

افغانستان په ټاکلو ۲۰ اورونو کې د ۸ لوبغاړو په سوځېدو ۱۵۵ منډې وکړې چې له ډلې یې رحمن الله ګربز ٦۱، حضرت الله ځاځي ۳۱ او شفیق الله شفق ۱٦ منډې وکړې. د زمبابوې له لوري کریس مپوفو ۴ او ټینوټینډا موتمبودزي ۲ افغان لوبغاړي وسوځول.

د ۱٥٦ منډو هدف د زمبابوې لوبډلې په ۱۹.۳ اورونو کې د ۳ لوبغاړو په سوځېدو پوره او په ۷ ویکټو یې بریا خپله کړه. د دوی له لوري همېلټون مسکدزا ۷۱ ډېرې او ریګیس چکابوا ۳۹ منډې وکړې. د افغانستان د توپ اچوونکو له لوري مجیب الرحمن ۲ او دولت ځدراڼ ۱ ویکټ ترلاسه کړه.

د یادولو ده چې رحمن الله ګربز په نړیوالو شل اوریزو لوبو کې خپله لومړۍ پنځوسیزه هم بشپړه کړه او همدا راز فضل نیازي بیا د افغانستان لپاره لومړۍ نړیواله شل اوریزه لوبه ترسره کړه.

افغانستان د بنګله دېش پر وړاندې (۲۱ سپتمبر):

افغانستان په خپله څلورمه او د یادو سیالیو په وروستۍ لوبه کې له بنګله دېش سره مخامخ شوه، چې په ۴ ویکټو یې د بنګله دېش لوبډلې څخه ماتې ومنله. په دغه لوبه کې لومړی د بنګله دېش لوبډلې پچه وګټله او لومړی یې افغان لوبډلې ته د توپوهنې بلنه ورکړه.

افغان لوبډلې په ټاکلو ۲۰ اورونو کې د ۷ لوبغاړو په سوځېدو ۱۳۸ منډې

وکړې چې له ډلې یې حضرت الله ځاځي ۴۷، رحمن الله ګربز ۲۹ او شفیق الله شفق ۲۳ ناسوځېدلي منډې وکړې. د بنګله دیش لپاره عفیف حسین ښه توپ اچونه ترسره کړه او دوه مهمې ویکټې یې واخیستې.

د ۱۳۹ منډو هدف د بنګله دېش لوبډلې په ۱۹ اورونو کې د ٦ لوبغاړو په سوځېدو پوره کړ او په ۴ ویکټو یې بریا خپله کړه. د دوی له لوري شکیب الحسن ۷۰ ناسوځېدلي او مشفیق الرحیم ۲٦ منډې وکړې. د افغانستان له لوري نوین الحق او راشد خان ۲-۲، مجیب الرحمن او کریم جنت ۱-۱ لوبغاړي وسوځول. دا د نوین الحق لومړۍ نړیواله شل اوریزه لوبه وه چې د افغانستان استازولي یې پکې وکړه. یاده لوبه د افغانستان، بنګله دېش او زمبابوې ترمنځ د سیریز شپږمه یا وروستۍ لوبه وه چې په دغه سیریز کې بنګله دېش ۳، افغانستان ۲ او زمبابوې په ۱ لوبه کې بریا خپله کړه، چې د افغانستان او بنګله دېش لوبډلو پایلوبې ته لار پیدا کړه.

د افغانستان او بنګله دېش ترمنځ پایلوبه د سپتمبر په ۲۴مه نېټه ترسره کېده، خو د باران له امله دغه لوبه ترسره نه شوه، یاد سیریز د دواړو لوبډلو ترمنځ مساوي اعلان شو او د لوبې ترافي دواړو لوبډلو په شریکه ترلاسه کړه. همدا راز د لوبړۍ د غوره لوبغاړي جایزه رحمن الله ګربز ترلاسه کړه.

دا د نوموړي لومړنی نړیوال شل اوریز سیریز و او د ښې لوبې نندارې ته وړاندې کولو سره غوره لوبغاړی اعلان شو.

همدا راز ملي لوبډله د سپتمبر په ۲۵مه نېټه هېواد ته راستنه شوه. د حامد کرزي په نړیوال هوایي ډګر کې لومړي ملي لوبغاړو ته د اداري له لوري تود هرکلی ویل شو او د دوی د غوره لاسته راوړنو په پار د کرکټ بورډ په اداره کې هم د هرکلي پروګرام نیول شوی و.

د دې پروګرام پرمهال د افغانستان کرکټ بورډ د عمومي رییس سلاکار عبدالله بارکزي په خپلو څرګندونو کې وویل: «د کرکټ بورډ مشرتابه او اداره ستاسي په لاسته راوړنو ویاړي، تاسي نړۍ ته وښودو چې غوره وړتیاوي لرئ، تاسي رېښتیني اتلان یاست د هېواد ملي بیرغ مو په نړۍ کې ورپاوه او ملي سرود مو د نړۍ په ګوټ ګوټ کې وغږاوه. ستاسي کړنې او ویاړنې به د افغانستان په تاریخ کې په زرینو کرښو ولیکل او پاتې شي.»

دغه راز د ملي لوبډلې لوبډلمشر راشدخان په خپلو څرګندونو کې وویل: «د بنګله دېش پر وړاندې مو تېسټ لوبه ګټل غټ هدف و چې له نېکه مرغه د لوبغاړو د زیاتې خوارۍ په پایله کې مو دغه ویاړ په خپل نوم کړ، که څه هم په شل اوریزه سیریز کې مو دوه لوبې وبایللې، خو بیا هم مو د راتلونکي شل اوریزه نړیوال جام چې په ۲۰۲۰ زیږدیز کال کې به ترسره شي له همدې سیالیو پلان شروع کړی ځکه مو په هره لوبه کې نویو او پخوانیو لوبغاړو ته د لوبېدو چانس ورکاوه.»

دغه راز لوبډلمشر راشد خان په خپلو څرګندونو کې د ځوانو لوبغاړو له وړتیاوو خوښي څرګنده کړه او دا یې د افغانستان د راتلونکي کرکټ ښه استازي وبلل.

د نوموړي پر وینا چې تر دې وروسته به د لوبډلې ټول پلان په نومبر میاشت کې د ویسټ اینډیز لوبډلې پر وړاندې د ټیسټ او شل اوریزو سیالیو لوبړۍ وي چې ګټل یې د افغانستان کرکټ لپاره خورا اړین دي.

د شپږیزه کرکټ لیګ د رامنځته کېدو څرنګوالی او تاریخچه

شپږیزه کرکټ لیګ سیالۍ په لومړي ځل په ۲۰۱۳ زېږدیز کال کې رامنځته شوې. په دې سیالیو کې د پنځو زونونو څخه یوه ـ یوه لوبډله شامله وه. دغه وخت افغانستان کرکټ بورډ اداري د سیالیو بشپړ مالي مسوولیت پرغاړه درلود او ټول امکانات اداري رامنځته کول. هغه مهال د سیالیو پیل و، خو په پوره مسلکي ډول سیالۍ ترسره شوې چې د نړۍ او هېوادوالو پوره پام یې ځان ته واړوه. کرکټ بورډ اداري هم په همدې موخه دا سیالۍ رامنځته کړې چې افغانان د خپلو اتلانو د ننداري لپاره یوه موقع ترلاسه کړي او له دې لارې ځوان استعدادونه هم ملي لوبډلو ته د تللو فرصت پیدا کړي.

د دغه ستر کورني لیګ موخې:

د کورني کرکټ د کچې لوړول، لوبغاړو او اداري ته د مالي سیستم رامنځته کول، ځوان استعدادونو ته له ملي لوبغاړو سره د لوبیدو زمینه برابرول، د مینه والو لپاره د ښې تفریح برابرول، افغان سوداګرو ته په کرکټ کې د پانګه اچونې زمینه برابرول او دې ته ورته ځینې نور غټ او کوچني اهداف و چې دغه سیالۍ رامنځته شوې او تر دې دمه په پوره بریالیتوب هر کال مخ ته رواني دي.

لوبډلې، زونونه او نومونه:

په لومړي ځل ۵ لوبډلې په دې سیالۍ کې وې چې د پنځو زونونو له نومونو سره یو ـ یو وروستاړی یوځای شوی و.

ـ سپین غر پړانګان د ختیځو ولایتونو د لوبډلې نوم چې په دې زون کې ننګرهار، کونړ، لغمان او نورستان ولایتونه شامل دي. په لومړي ځل د دې زون لوبډلمشري حمیدحسن کړې ده او تر هغې وروسته چې حمیدحسن ټپي شوی و، بیا کریم صادق، شبیر نوري او اوسمهال شفیق الله شفق د دې لوبډلې د مشرۍ ویاړ لري.

ـ امو نهنګان د شمال ختیځو ولایتونو لوبډله ده چې مرکز یې کندوز ولایت دی او نور اړوند ولایتونه یې بدخشان، تخار، بغلان، سمنګان، سرپل، جوزجان، فاریاب او بلخ دي. د دې لوبډلې لوبډلمشري میرویس اشرف او جاوید احمدي کړې ده او سږ کال دا ویاړ د شاپور ځدراڼ پر غاړه دی.

ـ بوست ساتونکي د جنوب غرب یا سویل غربي ولایتونو اړوند لوبډله ده چې مرکز یې تاریخي کندهار دی او نور اړوند ولایتونه یې هلمند، هرات، فراه، غور، بادغیس، ارزګان، نیمروز او زابل دي. شاپورځدراڼ، نجیب ځدراڼ او شهزاد محمدي د دې

زون لوبډلمشري کړې او سږ کال دا ستر مسوولیت بیا ګلبدین نایب مخ ته وړي.

- بند امیرشاماران د مرکزي ولایتونو اړوند لوبډله ده چې مرکز یې کابل دی. نور اړوند ولایتونه یې میدان وردګ، کاپیسا، پروان، پنجشیر، بامیان او دایکندي دي. محمدنبي عیسی خېل، اصغر افغان او راشد خان د دې زون لوبډلمشري کړې چې اوس هم راشدخان دا ویاړ پرغاړه لري.

ـ مس عینک اتلان هم د شپږیزې سیالیو یوه پیاوړې او مهمه لوبډله ده چې د سویل ختیځو ولایتونو اړوند ده. د دې زون مرکز پکتیا ده او نور ولایتونه یې خوست، غزني، لوګر او پکتیکا دي.

د دې زون لوبډلمشري نوروز منګل، ګلبدین نایب او دولت ځدراڼ کړې او له تېرو دوه کلونو راهیسې دا ویاړ محمد نبي عیسی خېل پر غاړه لري.

ـ کابل بازان: دغه لوبډله په دریم پړاو شپږیزه لیګ سیالیو کې رامنځته شوه، موخه یې دا ده چې د ټولو افغان لوبغاړو لپاره د لوبېدو زمینه رامنځته شي. دوه ځل تر پایلوبې تللې او یو ځل یې ګټلې هم ده. دا لوبډله یوازې په پلازمینې کابل پورې تړاو لري. لوبډلمشر یې له پیله تر دې دمه اصغر افغان دی.

د شپږیزې پړاوونه:

۱ـ لومړی پړاو ۲۰۱۳ زیږدیز کال: دغه کال په سیالیو کې پنځه لوبډلې شاملې وې، د لوبډلو او لوبغاړو ټول مسوولیت او مالي ملاتړ د کرکټ بورډ اداري پرغاړه و، دا لوبې له شمشاد ټلویزیون په ژوندۍ بڼه خپرېدلې. ټولو ملي لوبغاړو پکې ګډون درلود. پایلوبې ته یې سپین غر او امو لوبډلو لار پیدا کړه چې پایلوبه په سوپر اور کې سپین غر لوبډلې وګټله .

د دې سیالیو له لارې کرکټ بورډ ته عثمان غني او عزت الله دولتزی په لاس ورغلل او د دې ترڅنګ کریم صادق د غوره لوبغاړي په توګه وپېژندل شو.

۲ـ دویم پړاو ۲۰۱۴ زیږدیزکال: دغه کال هم کرکټ بورډ دغه سیالۍ پخپل لګښت ترسره کړې. دا ځل مس عینک لوبډله ډېره ښه وځلېده او په پایلوبه کې یې بند امیر ته ماتې ورکړه. دغه کال حضرت الله ځاځی کرکټ بورډ ته د ځوان لوبغاړي په توګه په لاس ورغی. ګلبدین نایب د ټورنمنټ غوره لوبغاړی و، نورعلي ځدراڼ او روښان بارکزی هم د ځلیدلو لوبغاړو په لیکه کې راغلي و.

۳ـ دریم پړاو ۲۰۱۵ زیږدیزکال: په لومړي ځل په دې کال مالي ملاتړ کوونکي په شپږیزې سیالیو کې

راګډ شول، چې د الکوزي اداري له لوري د ټولو سیالیو ملاتړ پیل شو او نورو ملاتړو ته د لوبډلو د اخیستلو بلنه ورکړل شوې وه، خو بیا هم ډېر لګښت کرکټ بورډ ورکړی و. دغه کال شپږمه لوبډله د کابل بازانو په نوم په دې سیالیو کې را دخیله شوې وه. پایلوبه هم کابل بازانو او سپین غر پړانګانو ترسره کړه چې سپین غر لوبډلې وګټله او په دې سره سپین غر د دویم ځل لپاره اتلولي خپله کړه. دغه کال د راشدخان په څېر غوره لوبغاړی کرکټ بورډ په لاس راوړ. همدارنګه په لومړي ځل بهرني لوبغاړي په دې سیالیو کې ولوبول شول. دغه راز محمد نبي د غوره لوبغاړي جایزه واخیسته او د راشد خان ترڅنګ قیس احمد، شاهد الله کمال او طارق ستانکزي په څېر ځوان لوبغاړي هم ښه وځلیدل.

۴ـ څلورم پړاو ۲۰۱٦ زیږدیزکال: په دې کال کې شپږیزې سیالیو تر یوه حده پورې بهرني مالي ملاتړ کوونکي پیدا کړي و چې لوبډلې یې پخپلو نومونو اخیستې وې، خو بیا هم د لګښت زیاته برخه کرکټ بورډ اداري پرې کوله.

پایلوبه کابل بازانو او مس عینک اتلانو لوبډلو ترسره کړه چې کابل بازانو د لومړي ځل لپاره دغه اتلولي د اصغر افغان په مشرۍ وګټله.

دغه کال هم په زیاته پیمانه بهرني لوبغاړي لکه کامران اکمل، محمدسمیع، اویس ضیا، ناصرجمشید، سلمان بټ او داسې نور لوبغاړي ولوبول شول.

په دې کال کې هم محمدنبي د سیالیو د غوره لوبغاړي جایزه وګټله، خو محمد شهزاد او راشدخان هم د ځلېدونکو لوبغاړو په لیکه کې وو. مجیب الرحمن، نوین الحق، درویش رسولي، کریم جنت، احسان الله جنت او وحیدالله شفق د ځوانو ځلېدونکو لوبغاړو ځایونه خپل کړي وو.

۵ـ پنځم پړاو ۲۰۱۷ زیږدیز کال: په دې کال کې شپږیزه کرکټ لیګ په بشپړه توګه بهرنیو مالي ملاتړ کوونکو ته وسپارل شو، د لوبډلو د اخیستلو لپاره هم بولي ترسره شوه چې سپین غر لوبډله مسلمیارګروپ، مس عینک لوبډله وزیرزي ګروپ، بند امیر لوبډله پاراګون ګروپ، کابل لوبډله جې پي شرکت، بوست لوبډله عارف عظیم ګروپ او امو لوبډله المصافي ګروپ واخیستې.

دغه راز د لوبغاړو لپاره هم د هندوستان غوره لیګ سیالیو په څیر د اخیستلو ازاد رقابت ترسره شو چې

Shpageeza
Cricket League

یو- یو لوبغاړی تر اویا لکو افغانیو پورې واخیستل شو. دغه کال په مالي ډول کرکټ بورډ اداري او لوبغاړو زیاتې پیسې ترلاسه کړې او ټورنمنټ د راشد خان په مشری بند امیر زون وګټلو.

په دې کال کې د کرکټ نړی نامتو بهرني لوبغاړي هم د لوبې، روزنې، لوبڅاری، میچ ریفري او کمینټری برخې ته راغوښتل شوي و. په لوبغاړو کې د زمبابوې هېواد مسکدزا، چټارا، سیبنډا، بورل، سکندر رضا، همدارنګه ډیلپورټ، ذیشان مقصود او دې ته ورته ډېر نور بهرني لوبغاړي راغلي وو. د دې سیالیو د غوره لوبغاړي جایزه کریم صادق ترلاسه کړه. جاوید احمدي، شاهدالله کمال او اصغرافغان په توپوهنه کې ځلیدونکي افغان لوبغاړي وو. په توپ اچوونکو کې بیا ظاهر خان پکتین، راشدخان او چټارا ځلیدونکي لوبغاړي وو.
په ۲۰۱۸ زېږدیز کال کې افغانستان کرکټ بورډ اداري افغانستان غوره لیګ سیالی رامنځته کړې چې په متحده عربي اماراتو کې ترسره شوې. له ډېرو هڅو سره هم

دغه وخت کرکټ اداره ونه توانیده چې دغه سیالی ترسره کړي، خو سږ کال یو وار بیا له ځینو مهمو نوښتونو سره کرکټ اداره شپږیزې سیالۍ د شپږو لوبډلو ترمنځ ترسره کوي.

کارنامې:

جاوید احمدي د شپږیزې سیالیو له لومړي پړاو څخه تر پنځم پړاوه پورې ۳۰ لوبې کړې دي چې ټولې منډې یې ۷۸۲ دي. دغه راز په توپ اچوونکو کې بیا راشدخان ۲۵ لوبې کړې دي او تر ټولو زیاتې ۴۵ ویکټې یې اخیستې دي. ترټولو زیاتې شپږیزې بیا محمدنبي عیسی خیل وهلي دي چې ۵۳ دي او محمد شهزاد پوره ۵۰ شپږیزې ترلاسه کړې دي. په شپږیزه لیګ سیالیو کې یوه سلیزه وهل شوې چې د سویلي افریقې توپوهونکي کیمرون ډیپلورټ ترلاسه کړې ده. په توپ اچوونکو کې رحمت شاه، عبدالله مزاري او ظاهر خان پکتین تر دې دمه توانیدلي چې یو ځل په یوه لوبه کې پنځه، پنځه ویکټې واخلي.

د یادولو ده چې سږنی کال د شپږیزې کرکټ لیګ لوبې د روان زېږدیز کال د اکتوبر په اوومه پیل چې د همدې میاشتې تر ۱۸مې نېټې پورې به دوام ومومي.

Shpageeza
Cricket League

محمد نبي
له ټېسټ لوبو استعفا وکړه

د افغانستان ملي لوبډلې یو هغه لوبغاړی چې له پیل راهیسې له افغان لوبډلې سره پاتې شوی، د افغانستان لپاره په تر ټولو زیاتو لوبو کې لوبېدلی او د افغانستان لوبډله چې نن په کوم مقام ده، دغه مقام ته رارسولو کې یې لوی نقش لوبولی دی، هغه یو نوم محمد نبي دی چې له ټېسټ لوبو یې استعفا وکړه.

نوموړی نه یوازې دا چې د افغانستان په لومړۍ نړیواله یو ورځنۍ لوبه کې لوبېدلی، بلکې په لومړۍ نړیواله شل اوریزه او لومړۍ ټېسټ لوبه کې یې هم د افغانستان ملي لوبډلې استازولي کړې ده.

محمد نبي ډېر ریکارډونه هم په خپل نوم کړي چې وروستی ریکارډ یې په نړیوالو شل اوریزو لوبو کې ۱۲ ځلې د غوره لوبغاړي جایزه ترلاسه کول دي. هغه همدا راز په لس غوره الراونډرانو کې هم یو دی.

افغانستان تر دې مهاله پورې یوازې درې ټېسټ سیالۍ ترسره کړې چې په دغه درې سیالیو کې یې په دوه سیالیو کې بریا خپله کړې ده. افغانستان خپله لومړۍ ټېسټ سیالي د هند، دویمه له ایرلنډ او دریمه له بنګله دېش سره ترسره کړه، چې محمد نبي په درې واړه ټېسټ سیالیو کې ګډون درلود.

د بنګله دېش پر وړاندې له وروستۍ ټېسټ لوبې وروسته محمد نبي له ټېسټ کرکټ څخه استعفا وکړه او وې ویل چې په یو ورځنیو او شل اوریزو لوبو کې به د افغانستان استازولي کوي.

هغه په خپلو خبرو کې وویل: ((ټېسټ په کرکټ کې تر ټولو مهمه بڼه ده چې هر لوبغاړی غواړي پکې ولوبېږي.))

هغه زیاته کړه: ((ما د افغانستان لپاره ۱۸ کاله لوبه وکړه، دا زما لوی ارمان و چې افغانستان دې د ټېسټ غړیتوب ترلاسه کړي او زموږ دغه خوب رښتیا شو. زموږ د ټېسټ غړیتوب ترلاسه کولو ډېر لږ وخت شوی، خو زه غواړم چې زما په ځای نور ځوان لوبغاړي ولوبېږي، چې په ډومېسټک سیالیو کې یې ښه ورتیا ښکاره کړې ده.))

هغه همدا راز وویل چې زه غواړم ځوانانو ته د لوبو زمینه برابره شي او هیله مې دا ده چې افغانستان په نږدې راتلونکې کې د ټېسټ یوه

مخکښه لوبډله ولري. نوموړي همدا راز وویل، چې په یو ورځنیو او شل اوریزو سیالیو کې به د افغانستان لپاره لوبېږم.

د افغان لوبډلې لوبډلمشر راشد خان د بنګله دېش په وړاندې په ټېسټ سیالۍ کې د غوره لوبغاړي جایزه ترلاسه کړه او هغه جایزه یې بیا محمد نبي ته ډالۍ کړه. نوموړي په خپلو خبرو کې وویل: ((تجربه کاره محمد نبي، چې نن یې خپله وروستۍ ټېسټ لوبه ترسره کړه، زما او د نورو ځوانو سپنرانو ډېره مرسته یې وکړه. زه خپله د غوره لوبغاړي جایزه محمد نبي ته ډالۍ کوم.))

توپوهنه:

محمد نبي د افغانستان لپاره په درې ټېسټ سیالیو کې لوبېدلی دی. په دغه لوبو کې یې ۳۳ منډې کړې او ۲۴ منډې یې په یوه پاڼۍ کې تر ټولو زیاتې منډې دي.

په ۱۲۱ یو ورځنیو نړیوالو لوبو کې یې د افغانستان استازولي کړې ده، چې د ۲۷.۵۴ په اوسط یې ۲٦۹۹ منډې کړي او په یوه لوبه کې زیاتې منډې یې ۱۱٦ دي. هغه ۱ سلیزه او ۱۴ پنځوسیزې هم په خپل نوم کړې دي.

نوموړی په ۷۲ نړیوالو شل اوریزو لوبو کې هم د افغانستان لپاره لوبېدلی چې د ۲۳.۰۵ په اوسط یې ۱۲۹۱ منډې کړي او په یوه لوبه کې زیاتې منډې یې ۸۹ دي. نوموړي شل اوریزو لوبو کې ۴ پنځوسیزې هم وهلې دي.

توپ اچونه:

محمد نبي په ۳ ټېسټ سیالیو کې ۸ ویکټې ترلاسه کړې دي، چې په یوه پاڼۍ کې یې د ۳٦ منډو په بدل کې ۳ لوبغاړي هم سوځولي دي.

په نړیوالو یو ورځنیو لوبو کې نوموړي بیا په ۱۲۱ لوبو کې ۱۲۸ لوبغاړي سوځولي دي او د ۳۰ منډو په بدل کې ۴ لوبغاړي سوځول یې په یوه لوبه کې ښه توپ اچونه ده.

په نړیوالو شل اوریزو لوبو کې نوموړي په ۷۲ لوبو کې ٦۹ ویکټې ترلاسه کړې چې په یوه لوبه کې یې بیا د ۱۰ منډو په بدل کې ۴ لوبغاړي سوځول ښه توپ اچونه ده.

د ۱۹ کلنو کم عمره ځوانانو لوبډله له لاسته راوړنو سره هېواد ته راستنه شوه

د افغانستان ۱۹ کلنو ځوانانو کم عمره لوبډله د ۱۹ کلنو کم عمره اسیایي جام سیالیو کې تر ګډون وروسته د سپتمبر په ۱۵مه نېټه بېرته هېواد ته راستنه شوه.
په دغه سیالیو کې افغان ۱۹ کلنو کم عمره لوبډلې ښې لوبې ترسره کړې چې د پاکستان او کویت لوبډلو ته یې په لوی توپیر ماتې ورکړې، خو له هند څخه یې بیا په ډېر کم توپیر ماتې ومنله. همدا راز په نیمه پایلوبه کې د باران له امله یې لوبه ترسره نه کړای شوه.
د افغانستان ۱۹ کلنو کم عمره ځوانانو لومړۍ لوبه د پاکستان ۱۹ کلنو کم عمره ځوانانو سره د سپتمبر په ۵مه نېټه ترسره کړه.
په پیل کې پچه د پاکستان لوبډلې وګټله او لومړۍ یې د افغانستان لوبډلې ته د توپوهنې بلنه ورکړه.
افغانستان په ټاکلو ۴۶ اورونو کې د ۹ لوبغاړو په سوځېدو ۱۶۲ منډې وکړې، چې له ډلې یې صدیق الله اتل ۲۹ او رحمن الله ۲۷ منډې وکړې. د ۱۶۳ منډو د هدف په تعقیب کې د پاکستان ټول لوبغاړي په ۱۹.۴ اورونو کې وسوځېدل او ۷۸ منډې یې وکړې، چې د D/L قانون له مخې افغانستان په ۸۵ منډو بریا خپله کړه.
د افغانستان له لوري شفیق الله غفاري ۳، فضل حق، عابدالله تنیوال او نور احمد ۲-۲ او جمشېد خان ۱ لوبغاړی وسوځاوه.
د لوبې د غوره لوبغاړي جایزه شفیق الله غفاري ته ورکړل شوه.
افغانستان په خپله دویمه لوبه کې د کویت سره مخامخ شو، دغه لوبه د سپتمبر په ۷مه نېټه ترسره شوه. په پیل کې پچه افغان لوبډلې وګټله او لومړۍ یې د کویت لوبډلې ته د توپوهنې بلنه ورکړه.
افغان زلمو د کویت ټوله لوبډله په ۲۷.۳ اورونو کې د ۸۵ منډو ترلاسه کولو وروسته وسوځوله. یاد هدف افغان لوبډلې په ۱۲.۵ اورونو کې د ۳ لوبغاړو په سوځېدو پوره او په ۷ ویکټو یې کویت لوبډلې ته ماتې ورکړه.
په دغه لوبه کې شفیق الله غفاري ۳، فضل حق او نور احمد ۲-۲ او عبدالرحمن ۱ لوبغاړی وسوځاوه. همدا راز په توپوهنه کې بیا فرحان زاخېل ۳۸ ناسوځېدلې او رحمن الله ۲۸ منډې وکړې. د لوبې د غوره لوبغاړي جایزه یو ځل بیا شفیق الله غفاري ترلاسه کړه.
افغان ۱۹ کلنې کم عمره لوبډلې خپله دریمه لوبه د سپتمبر

په ۹مه نېټه د هند ۱۹ کلنې کم عمره لوبډلې سره ترسره کړه. په پیل کې پچه افغان لوبډلې وګټله او لومړۍ یې د توپوهنې پرېکړه وکړه.
افغانستان په ۴۰.۱ اورونو کې د ټولو لوبغاړو په سوځېدو ۱۲۴ منډې وکړې، چې له ډلې یې عابدالله تنیوال ۳۹، فرحان زاخېل ۲۹ او صدیق الله اتل ۲۵ منډې وکړې.
یاد هدف د هند لوبډلې په ۳۸.۴ اورونو کې د ۷ لوبغاړو په سوځېدو پوره او په ۳ ویکټو یې بریا خپله کړه. که څه هم په پیل کې هندۍ لوبډله ښه روانه وه، خو په وروستي اورونو کې بیا د هندۍ لوبډلې پرلپسې ویکټې وسوځېدې، خو بریا یې خپله کړه.
په دغه لوبه کې نور احمد ۴، شفیق الله غفاري ۲ او جمشېد خان ۱ لوبغاړی وسوځاوه.
د لومړي پړاو لوبو پای ته رسېدو سره په اې ګروپ کې هند په سر کې او ورپسې افغان لوبډله راغله، همدا راز په بي ګروپ کې بیا بنګله دېش په سر کې او ورپسې د سریلانکا لوبډله راغله. افغانستان خپله نیمه پایلوبه د بنګله دېش لوبډلې سره د سپتمبر په ۱۲مه نېټه ترسره کوله، خو د باران له امله د هېڅ توپ ترسره کېدو پرته لوبه بې پایلې پای ته ورسېده، خو چون د بنګله دېش لوبډله د خپل ګروپ په سر کې وه، نو هغه پایلوبې ته لار پیدا کړه.
پایلوبه د هند او بنګله دېش ترمنځ ترسره شوه، چې د هند ۱۹ کلنې کم عمره لوبډلې پکې اتلولي خپله کړه.
له یادو سیالیو وروسته افغان ۱۹ کلنه کم عمره لوبډله د سپتمبر په ۱۵مه نېټه هېواد ته راستنه شوه، چې د افغانستان کرکټ بورډ عمومي رییس ښاغلي فرهان یوسفزي او نورې ادارې ورته هرکلی ووایه. د کرکټ بورډ عمومي مشر د هرکلي پر مهال لوبغاړو ته په خپله وینا کې وویل، چې د ۱۹ کلنو کم عمره اسیایي جام کې تاسې ډېرې ښې لوبې وکړې او پاکستان او کویت لوبډلو ته مو په ستر توپیر ماتې ورکړې او نیمه پایلوبې ته مو ځان ورساوه، زه په تاسو ویاړم. نوموړي زیاته کړه چې تاسې د راتلونکي اتلان یئ او مخکې به نور پرمختګ هم کوئ.
د ۱۹ کلنو کم عمره لوبډلې لوبډلمشر فرحان زاخېل له کرکټ بورډ څخه مننه وکړه او ویې ویل چې ټولو ځوانانو ښه لوبه وکړه، خو بیا به هم خپلو نیمګړتیاو ته پاملرنه کوو او په راتلونکي کې به پرې کار کوو. هغه همدا راز وویل، چې د راتلونکي ځل لپاره به تر دې هم ډېره خواري کوي او هڅه به کوي چې لا مخکې لاړ شي.
د ۱۹ کلنو کم عمره لوبډلې روزونکي رییس احمدزي بیا په خپلو خبرو کې وویل، چې دا ځوانان د افغانستان راتلونکی دی. هغه وویل چې پاکستان ته مو په سیالۍ کې تاریخي ماته ورکړه، خو د کرکټ ځینې پرېکړې داسې وې چې دوی ونه شول کولای پایلوبې ته لار پیدا کړي، ځکه نیمه پایلوبه ترسره نه شوه او بنګله دېش پایلوبې ته لاړ. هغه همدا راز وویل چې خپلو نیمګړتیاو ته پوره پاملرنه کوو او په هغې به کار کوو.

مس عینک زون

د غازي امان الله خان جام سیالیو اتلولي خپله کړه

د ۲۰۱۹ کال غازي امان الله خان جام یو ورځنۍ لیسټ اې سیالۍ د سپتمبر په ۱۰مه نېټه پیل او د سپتمبر په ۲۴مه نېټه پای ته ورسېدې چې د مس عینک زون لوبډلې په پایلوبه کې د تېرو سیالیو اتلې بوست زون لوبډلې ته ماته ورکړه او په لومړي ځل یې اتلولي خپله کړه.

له هغه وروسته چې افغانستان د کرکټ نړیوالې شورا بشپړ غړیتوب ترلاسه کړ، دا دریم ځل دی چې د غازي امان خان جام یو ورځنۍ لیسټ اې سیالۍ ترسره شوې.

په سږکال سیالیو کې پنځه لوبډلو ګډون درلود چې هرې لوبډلې له نورو څلورو لوبډلو سره یوه یوه لوبه ترسره کړه او په پای کې دري مخکښو لوبډلو مخکې پړاو ته لار پیدا کړه.

امو زون په کتار کې لومړی مقام خپل کړی و چې ۳ لوبو کې یې بریا خپله کړې وه او ٦ نومرې یې درلودې، همدا راز بوست زون لوبډله بیا په دویم مقام وه چې ۳ لوبو کې یې بریا خپله کړې او ٦ نومرې یې ترلاسه کړې وې. د مس عینک زون لوبډله بیا دریمه لوبډله وه چې ۲ لوبې یې ګټلې وې او ۴ نومرې یې درلودې. همدا راز د سپین غر زون لوبډلې هم ۲ لوبې ګټلې وې او ۴ نومرې یې درلودې، خو بند امیر زون لوبډلې بیا په خپلو ټولو لوبو کې ماته خوړلې وه.

د لومړیو دوه لوبډلو امو زون او بوست زون ترمنځ لومړۍ پلې آف لوبه د سپتمبر په ۲۱مه نېټه ترسره شوه، چې بوست زون په ۵٦ منډو پکې بریا خپله کړه. د دغه لوبې په بریا سره بوست زون د سیالیو پایلوبې ته لار پیدا کړه او همدا راز امو زون بیا په دویمه پلې آف لوبه کې له مس عینک زون سره د سپتمبر په ۲۲مه

NULLAH KHAN
REGIONAL ONE-DAY TOURNAMENT 2019

د غازي امان الله خان د زونونو په کچه یو ورځینی سیالی

Points Table

TEAM	M	W	L	T	N/R	PT	NRR
AMO	4	3	1	0	0	6	0.546
BOST	4	3	1	0	0	6	0.049
MIS-E AINAK	4	2	2	0	0	4	0.612
SPEENGHAR	4	2	2	0	0	4	0.444
BAND-E AMIR	4	0	4	0	0	0	-1.635

M: The number of matches played. W: The number of matches won. L: The number of matches lost.
T: The number of matches tied. N/R: The number of matches abandonded. PT: The number of points awarded
NRR: Net Run Rate

نېټه مخامخ شوه.

مس عینک زون د امو زون لوبډلې څخه په ۳٦ منډو بریا خپله کړه او پایلوبې ته یې لار پیدا کړه.

پایلوبه:

د غازي امان الله خان جام یو ورځنیو سیالیو پایلوبه د سپتمبر په ۲۴مه نېټه د مس عینک زون او بوست زون لوبډلو ترمنځ د کابل په لوبغالي کې ترسره شوه.

په پیل کې د لوبې پچه د بوست زون لوبډلې وګټله او لومړی یې د مس عینک زون لوبډلې ته د توپوهنې بلنه ورکړه.

مس عینک زون په ۴۴.۵ اوورنو کې د ټولو لوبغاړو په سوځېدو ۱۹۹ منډې وکړې، چې له ډلې یې عمران ۴۷، افسر ځاځي ۴۳ او ابراهیم ځدران ۳۰ منډې وکړې.

د بوست زون له لوري سمیع الله شینواري ۴، یمین احمدزي او وقار الله اسحاق ۲-۲ او دستګیر خان ۱ ویکټ ترلاسه کړه.

د ۲۰۰ منډو د هدف په تعقیب کې د بوست زون ټول لوبغاړي په ۲۳.۱ اوورنو کې په ۱۱۱ منډو وسوځېدل او د ۸۸ منډو په ستر توپیر یې له مس عینک زون څخه په پایلوبه کې ماته ومنله. د

دوی لـه لـوري احسـان اللـه جنـت ٦٠ او ناصر جمال ١٠ منډې وکړې، بل هېڅ لوبغاړی په دې ونه توانېده چې زیاتې منډې وکړي.

د مس عینک زون له لوري په زړه پورې توپ اچونه ترسره شوه، چې ضیا الرحمن اکبر ٣، ضیا الرحمن شریفي، نواز خان او ابراهیم ځدراڼ ٢-٢ لوبغاړي وسوځول او یوسف ځاځي هم یو ویکټ ترلاسه کړه.

د پایلوبې د غوره لوبغاړي جایزه د مس عینک زون توپ اچونکي ضیا الرحمن اکبر ته ورکړل شوه، چې په یاده لوبه کې یې ٣ مهمې ویکټې ترلاسه کړې وې.

غوره لوبغاړي او جایزې:

د غازي امان الله خان جام سیالیو د غوره توپ اچونکي جایزه سلیم خان ته ورکړل شوه، د غوره توپوهونکي جایزه منیر احمد کاکړ ته ورکړل شوه او د سیالیو تر ټولو غوره لوبغاړی بیا میروېس اشرف و، چې جایزه یې ترلاسه کړه. همدا راز د سیالیو ځوان لوبغاړی بیا عمران میر و، چې جایزه یې ترلاسه کړه.

په پایلوبه کې بریالۍ مس عینک زون لوبډلې ته ٢٥٠ زره افغانۍ جایزه او دویم مقام لرونکې بوست زون لوبډلې ته بیا ١٥٠ زره افغانۍ جایزه ورکړل شوه.

د سیالیو مخکښ لوبغاړي:

د غازي امان خان جام یو ورځنیو لېسټ اې سیالیو کې تر ټولو زیاتې منډې د بوست زون لوبډلې منیر احمد کاکړ کړې وې، نوموړي په ٦ لوبو کې ٤١٤ منډې وکړې. همدا راز د بوست زون ناصر جمال په ٦ لوبو کې ٢٥٦ منډې، د مس عینک زون عمران په ٦ لوبو کې ٢٥٠ منډې، د سپین غر زون بهیر شاه په ٤ لوبو کې ٢٣٧ منډې او د مس عینک زون نور علي ځدراڼ بیا په ٦ لوبو کې ٢٢٤ منډې کړې وې.

په یوه پاڼۍ کې تر ټولو زیاتې منډې بیا د امو زون حیات الله د مس عینک زون په وړاندې ١٢١ ناسوځېدلي او د بوست زون منیر احمد کاکړ د سپین غر زون په وړاندې هم ١٢١ منډې وکړې. عمران د سپین غر زون په وړاندې ١١٥، سمیع الله شینواري د سپین غر زون په وړاندې ١١١ ناسوځېدلي او ناصر جمال

GHAZI AMANULLAH KHAN
REGIONAL ONE-DAY TOURNAMENT 2019

د غازي امان الله خان د زونونو په کچه یو ورځنۍ سیالۍ

MOST RUNS

TEAM	MAT	INNS	NO	RUNS	HS	AVE	BF	SR	100	50
MUNIR AHMAD BOOST REGION	6	6	1	414	121	82.80	500	82.80	2	2
NASIR JAMAL BOOST REGION	6	6	0	256	106	42.66	312	82.05	1	1
IMRAN MIS AINAK REGION	6	6	0	250	115	41.66	284	88.02	1	0
BAHIR SHAH SPEEN GHAR REGION	4	4	1	237	104	79.00	239	99.16	2	0
NOOR ALI ZADRAN MIS AINAK REGION	6	6	0	224	101	37.33	341	65.68	1	0

GHAZI AMANULLAH KHAN
REGIONAL ONE-DAY TOURNAMENT 2019

د غازي امان الله خان د زونونو په کچه یو ورځنۍ سیالۍ

MOST WICKETS

TEAM	MAT	INNS	OVERS	MDNS	RUNS	WKTS	BBI	AVE	ECON	SR
MIRWAIS ASHRAF AMO REGION	6	6	57.4	1	260	16	4/56	16.25	4.50	21.6
SALIM AMO REGION	5	5	41.3	3	194	15	5/51	12.93	4.67	16.6
ZIA-UR-REHMAN MIS AINAK REGION	6	6	54.1	5	204	15	4/25	13.60	3.76	21.6
IBRAHIM AMO REGION	6	6	54.1	6	186	10	3/50	18.60	3.43	32.5
MOHAMMAD ALAM BOOST REGION	6	6	48.0	3	178	9	6/31	19.77	3.70	32.0

د امو زون په وړاندې ١٠٦ منډې کړې وې.

همدا راز بهیر شاه او منیر احمد کاکړ بیا ٢-٢ سلیزې ووهلې او منیر احمد کاکړ ٤ پنځوسیزې هم په خپل نوم کړې. د شپږیزو په برخه کې بیا نواز خان تر ټولو زیاتې ٩ شپږیزې ووهلې او میروېس اشرف بیا ٧ شپږیزې ووهلې.

د توپوهونکو په برخه کې بیا د امو زون میروېس اشرف تر ټولو مخکې و، نوموړي په ٦ لوبو کې ١٦ لوبغاړي وسوځول. همدا راز د امو زون سلیم ١٥، د مس عینک زون ضیا الرحمن ١٥، د امو زون ابراهیم ١٠، د بوست زون محمد عالم ٩ او د مس عینک زون یوسف ځاځي هم ٩ ویکټې ترلاسه کړې.

په یوه لوبه کې بیا تر ټولو زیاتې ٦ ویکټې د بوست زون محمد عالم د امو زون په وړاندې ترلاسه کړې چې په ٩ اورونو کې یې ٣١ منډې ورکړې او ٦ لوبغاړي یې وسوځول. همدا راز یوسف ځاځي ٥، سلیم ٥، بهیر شاه او سمیع الله شینواري هم په یوه لوبه کې ٤-٤ لوبغاړي وسوځول`.

411 معلومات INFORMATION

ستاسو دمعلوماتو نړۍ

معلومات 411 ، دعمومي معلوماتو څانګه د مسلکي
او تجربه لرونکو استازو په لرلو د اړینو او کره
معلوماتو په وړاندې کولو سره 24 ساعته د خپلو
ګرانو هیوادوالو په چوپړکې ده.

همدا مهال ۴۱۱ سره اړیکه ټینګه کړئ او خپل معلومات ترلاسه کړئ.

/malomaat.af www.malomaat.af info@malomaat.af



The Leading ISP/ICT Company In Afghanistan

رحمت شاه

لومړنی افغان لوبغاړی چې ټېسټ سیالیو کې یې سلیزه ووهله

رحمت شاه د افغانستان ملي لوبډلې یو له مخکښو توپوهونکو څخه دی چې په لوبډله کې د الراونډر په حیث لوبېږي، په ښي لاس توپوهنه کوي او همدا راز لیګ بریک ګوګلي توپ اچونه ترسره کوي. هغه په ډېرو نړیوالو لوبو کې افغانستان ته بریا ور په برخه کړې ده او لا هم په لوبو کې ځلېږي.

نوموړی د افغانستان کرکټ یوازېنی توپوهونکی دی چې په ټېسټ سیالیو کې یې د بنګله دېش په وړاندې خپله سلیزه پوره کړه. نوموړي د بنګله دېش پر وړاندې په لومړي پاټۍ کې ۱۰۲ منډې وکړې او دغه تاریخي کارنامه یې ترسره کړه.

زېږېدنه:

رحمت شاه زرمتی د جولای په ٦مه نېټه ۱۹۹۳ کال د پکتیا ولایت په زرمت کې زېږېدلی دی.

د کورني کرکټ لوبې:

نوموړي لېست اې لوبې د افغانستان لپاره د پاکستان اې لوبډلې پر وړاندې وکړې او همدا راز د فیصل اباد او راولپنډۍ لوبډلو پر وړاندې هم په ډومیسټک لوبو کې ولوبېده. نوموړی په شل اوریزو لوبو کې بیا په ۲۰۱۷ کال کې په شپږیزه کرکټ لیګ کې د بند امیر شاهارانو لپاره ولوبېده.

په ۲۰۱۸ جولای کې بیا نوموړی د غازي امان الله خان یو ورځنیو ولایتي سیالیو کې د مس عینک زون لپاره ولوبېده او د مس عینک زون له لوري زیاتې منډې جوړونکی و چې په ۵ لوبو کې یې ۲۵۸ منډې وکړې، همدا راز تر ټولو زیاتې ویکټې یې هم واخیستې او په ۵ لوبو کې یې ۸ لوبغاړي وسوځول. په فرسټ کلاس لوبو کې رحمت شاه په ۱۵ لوبو کې ۹۳۳ منډې کړې دي او ۱۴۴ یې په یوه پاټۍ کې تر ټولو زیاتې منډې دي. همدا راز ۲ سلیزې او ٦ پنځوسیزې یې هم وهلې دي. د لېسټ اې سیالیو یې بیا ۱۰۵ لوبې ترسره کړې دي چې ۳۲۷۲ منډې یې پکې کړې او په یوه لوبه کې زیاتې منډې یې ۱۱۴ دي. ٦ سلیزې او همدا راز ۱۹ پنځوسیزې یې هم وهلې دي.

نړیوالې لوبې

یو ورځنۍ لوبې:

نوموړي د افغانستان ملي لوبډلې لپاره خپله لومړۍ نړیواله یو ورځنۍ لوبه د مارچ په ٦مه نېټه ۲۰۱۳ کال کې د سکاټلنډ پر وړاندې وکړه. همدا راز د جولای په ۴مه نېټه ۲۰۱٦ کې نوموړي په نړیوالو یو ورځنیو لوبو

کې خپله لومړۍ سلیزه د سکاټلنډ پر وړاندې په ووهله، نوموړي په دغه لوبه کې ۱۰۰ منډې وکړې او ناسوځېدلی پاتې شو، خو لوبه بې پایلې پای ته ورسېده. رحمت شاه د کرکټ نړیوالې شورا (ایي سي سي) د نړیوالو یو ورځنیو لوبو د سل غوره توپوهونکو په لیسټ کې ۴۲م مقام لري. بل هېڅ افغان لوبغاړی له رحمت شاه مخکې نه دی، خو تر هغه وروسته بیا محمد شهزاد، نجیب الله ځدراڼ، حشمت الله شهیدي، محمد نبي، اصغر افغان، راشد خان او ګلبدین نایب هم د سل غوره توپوهونکو په نوملړ کې ځای لري.

همدا راز نوموړي د نړیوالو یو ورځنیو لوبو د سل غوره الراونډرانو په لېسټ کې هم ۷۴م مقام خپل کړی دی.

رحمت شاه د افغانستان ملي لوبډلې لپاره تر دې دمه پورې ۷۰ یو ورځنۍ نړیوالې لوبې ترسره کړې دي. په یوه لوبه کې یې تر ټولو زیاتې منډې ۱۱۴ دي او ټولې یې بیا ۲۲۵۵ منډې کړې دي. د لوبې اوسط یې ۳۵.۲۳ دی او سټرایک ریټ (په سل توپونو منډې) یې ۷۰.۱۳ دی. هغه تر اوسه پورې ۴ سلیزې او ۱۵ پنځوسیزې وهلې دي، ۲۴ شپږیزې، ۱۹۵ څلوریزې او ۱۹ کېچونه یې هم نیولې دي.

ټېسټ لوبې:

د ۲۰۱۸ په مۍ کې رحمت شاه د افغانستان لوبډلې لومړۍ ټېسټ لوبې په نوملړ کې شامل و چې افغانستان له هند سره ترسره کوله. افغانستان د بشپړ غړیتوب ترلاسه کولو وروسته خپله لومړۍ نړیواله ټېسټ لوبه له هندي لوبډلې سره د هند په بنګلورو کې ترسره کړه چې د جون په ۱۴مه

نېټه پیل او په ۱۵مه نېټه پای ته
ورسېده.

که څه هم رحمت شاه په دغه لومړۍ
ټېسټ لوبه کې ښه ونه ځلېده، خو کله
چې افغانستان خپله دویمه نړیواله
ټېسټ لوبه په مارچ ۲۰۱۹ کې له
ایرلنډ سره ترسره کړه، نو نوموړي تر
ټولو ښه توپوهنه وکړه، چې په لومړۍ
پانۍ کې یې ۹۸ او په دویمه پانۍ
کې یې ۷۶ منډې وکړې او د لوبې د
غوره لوبغاړي جایزه یې هم ترلاسه کړه.
همدا راز د بنګله دېش پر وړاندې د
افغانستان په دریمه او له بنګله دېش
سره په یوازینۍ ټېسټ لوبه کې چې
افغانستان پکې ستره او تاریخي بریا
خپله کړه، رحمت شاه هم په دغه لوبه
کې د لومړني افغان لوبغاړي په توګه
په ټېسټ سیالیو کې سلیزه ووهله.
هغه په دغه لوبه کې په لومړۍ پانۍ
کې ۱۰۲ او په دویمه پانۍ کې بیا
په صفر وسوځېده. د کرکټ نړیوالې
شورا د ټېسټ توپوهونکو په درجه
بندۍ کې د بنګله دېش سره تر لوبې
وروسته اصغر افغان ۶۳م مقام او تر
هغه وروسته بیا د رحمت شاه نوم دی
چې په ۶۵م مقام باندې ولاړ دی.
نوموړی تر دې مخکې په ۹۲م مقام
باندې و او یوازینی افغان توپوهونکی و
چې د ټېسټ درجه بندۍ کې په ۱۰۰
توپوهونکو کې راغلی و.رحمت شاه په
ټېسټ سیالیو کې د افغانستان لپاره
تر ټولو زیاتې منډې کړې دي، نوموړي
په ۳ ټېسټ سیالیو کې ۲۹۴ منډې
کړې دي، همدا راز تر هغه وروسته بیا
اصغر افغان ۲۴۵ منډې کړې.

۲۰۱۹ نړیوال جام:

نوموړی په اپریل ۲۰۱۹ کې د
۲۰۱۹ کرکټ نړیوال جام لپاره هم
د افغانستان په لوبډله کې شامل و،
چې په دغه جام کې یې د افغانستان
لپاره په ۹ لوبو کې تر ټولو زیاتې ۲۵۴
منډې وکړې.

شل اوریزې تجارتي لوبې:

په سپټمبر ۲۰۱۸ کال کې رحمت
شاه د افغانستان غوره لیګ (APL)
په لومړي پړاو کې د ننګرهار لیپرډز
په لوبډله کې شامل و، چې په ۸ لوبو
کې یې ۸۷ منډې وکړې او همدا راز ۶
لوبغاړي یې وسوځول.
رحمت شاه ۱۶ شل اوریزې لوبې
ترسره کړې دي، چې ۲۱۴ منډې یې
کړې او ۶۰ منډې یې بیا په یوه لوبه
کې زیاتې منډې دي.
هغه تر دې دمه پورې د افغانستان
لپاره نړیوالو شل اوریزو لوبو کې ګډون
نه دی کړی.

توپ اچونه:

رحمت شاه د توپوهنې تر څنګ لیګ
بریک ګوګلي توپ اچونه هم کوي،
چې په نړیوالو یو ورځنیو لوبو کې یې
۱۴، په فرسټ کلاس لوبو کې ۱۵،
په لېسټ اې لوبو کې ۵۶ او په شل
اوریزو لوبو کې یې ۶ ویکټې ترلاسه
کړې دي.
نوموړی له نړیوال جام مخکې د
افغانستان د ټېسټ لوبډلې لوبډلمشر
هم ټاکل شوی و، خو له نړیوال جام
وروسته راشد خان د یو ورځنیو او شل
اوریزو بڼو تر څنګ د رحمت شاه پر
ځای د ټېسټ لوبډلې لوبډلمشر هم
وټاکل شو.

د ټېسټ سياليو نړيواله اتلولي

د کرکټ نړيوالې شورا له خوا د ټېسټ سياليو نړيواله اتلولي يا ICC World Test Championship د اگست په لومړۍ نېټه ۲۰۱۹ کې پيل شوې او د ۱۴ جون ۲۰۲۱ پورې به دوام وکړي.
لکه څنگه چې د کرکټ نړيواله شورا په يو ورځنيو او شل اوريزو لوبو کې نړيوال جامونه ترسره کوي، همدا لامل شو چې ايي سي سي د ټېسټ نړيوالو سياليو جام هم پيل کړ.
د ټېسټ سياليو نړيوالې اتلولۍ کې ۹ لوبډلې برخه لري، ۲۷ لوبلړۍ او ۷۲ لوبې پکې ترسره کېږي، هره لوبډله درې لوبلړۍ په خپل هېواد او درې لوبلړۍ په بل هېواد کې ترسره کوي.
کله چې ټولې لوبډلې خپلې لوبې ترسره کړي، نو له هغه وروسته به د ليسټ په سر کې د لومړۍ او دويمې لوبډلې ترمنځ پايلوبه ترسره کېږي او هر چا چې په پايلوبه کې بريا خپله کړه نو هغه لوبډله به د ټېسټ سياليو اتله لوبډله اعلان شي.
دغه نړيوالو ټېسټ سياليو ته لوبډلې د ۳۱م مارچ ۲۰۱۸ ايي سي سي ټېسټ درجه بندۍ له امله انتخاب شوې دي چې پکې استراليا، بنگله دېش، انگلستان، هند، نيوزيلنډ، پاکستان، سويلي افريقا، سريلانکا او ويسټ انډيز لوبډلې شاملې دي. هره لوبډله به ٦ لوبلړۍ ترسره کوي چې په هره لوبلړۍ کې به لږ تر لږ دوه لوبې او زيات نه زيات ۵ لوبې شاملې وي، همدا راز نومرې هم په همدغه ډول وېشل شوې دي، خو هره لوبلړۍ ۱۲۰ نومرې لري.
که چېرې په يوه لوبلړۍ کې دوه لوبې ترسره کېږي نو د هرې لوبې د گټلو په سر به لوبډلې ته ٦۰ نومرې ورکول کېږي، خو که د درې لوبو لوبلړۍ وي، نو بيا به د هرې لوبې په سر ۴۰ نومرې ورکول کېږي، د ۴ لوبو لوبلړۍ کې به د يوې لوبې په گټلو ۳۰ نومرې او د ۵ لوبو لوبلړۍ کې به د يوې لوبې په گټلو ۲۴ نومرې ورکول کېږي.
همدا راز د مساوي لوبو او بې نتيجې پای ته رسېدلو لوبو په اړه هم نومرې وېشل شوې دي. لکه که د دوه لوبو په لوبلړۍ کې يوه لوبه مساوي کېږي نو هرې لوبډلې ته به ۳۰ نومرې ورکول کېږي، خو که چېرته لوبه بې پايلې پای ته رسېږي، نو بيا به هرې لوبډلې ته ۲۰ نومرې ورکول کېږي. چې دا نومرې بيا د ۵ لوبو لوبلړۍ کې په مساوي لوبه هرې لوبډلې ته ۱۲ او د بې نتيجې پای ته رسېدلې لوبې په سر هرې لوبډلې ته ۸ نومرې ورکول کېږي.
په دې دوه کلونو کې چې څومره ټېسټ لوبې کېږي، هغه د ټېسټ سياليو په نړيواله اتلولۍ کې نه شمېرل کېږي، يوازې هغه لوبې چې د همدغه سرليک لاندې ترسره شي، هغه به شمېرل کېږي. لکه افغانستان، ايرلنډ او زمبابوې که ټېسټ

سيالۍ ترسره کوي، نو دغه سيالۍ د ټېسټ سياليو په نړيواله اتلولۍ کې نه شمېرل کېږي. همدا راز د نړيوالو ټېسټ سياليو اتلولۍ ټولې لوبې په FTP (Future Tour Program) کې شاملې دي.

د ټېسټ نړيوالو سياليو تاريخ:

د کرکټ نړيوالې شورا په ۲۰۱۳ کې د ټېسټ نړيوالو سياليو د ترسره کولو پلان درلوده چې غوښتل يې دغه کال کې د چيمپينز ټرافۍ پر ځای دغه ټېسټ سيالۍ ترسره کړي، خو هغه بيا ترسره نه شوې. وروسته د ۲۰۱۷ کال لپاره د ټېسټ نړيوالې سيالۍ پلان شوې او د ۲۰۱۷ چيمپينز ټرافي ختمه کړل شوه، همدا راز د ټېسټ لوبو درجه بندۍ کې چې کومې ۴ لوبډلې په سر کې وې، هغه ۴ لوبډلو ورته لار هم پېدا کړه، خو وروسته يو ځل بيا د ټېسټ نړيوالو سياليو اړوند ناستې وشوې او په فارمټ باندې يې هم بحثونه وشول، چې يو ځل بيا لغوه او په ۲۰۱۷ کال کې بېرته چيمپينز ټرافي پلان شوه.
خو بالاخر د اگست په لومړۍ نېټه ۲۰۱۹ کې د ټېسټ نړيوالو سياليو اتلولۍ لوبې پيل شوې چې د ۱۴ جون ۲۰۲۱ پورې به دوام وکړي. د يادولو ده چې د اسيايي کرکټ شورا له لوري په ۱۹۹۸ او ۲۰۰۲ کلونو کې د اسيايي ټېسټ لوبډلو ترمنځ سيالۍ ترسره شوې چې ۴ اسيايي لوبډلو بنگله دېش، هند، پاکستان او سريلانکا پکې گډون درلود.
په لومړي ځل دغه سيالۍ په ۱۹۹۸ کال کې ترسره شوې چې يوازې هند، پاکستان او سريلانکا پکې گډون وکړ، ځکه دغه مهال پورې ايي سي سي بنگله دېش ته بشپړ غړيتوب نه و ورکړی.
پايلوبې ته د پاکستان او سريلانکا لوبډلې لاړې چې پاکستان سريلانکا ته ماتې ورکړه او د اسيايي ټېسټ سياليو لومړۍ اتله لوبډله شوه.
همدا راز په ۲۰۰۲ کې په دويم ځل د اسيايي لوبډلو ترمنځ ټېسټ سيالۍ ترسره شوه، خو دا ځل پکې هند له پاکستان سره د سياسي ستونزو له امله په دغه سياليو کې گډون ونه کړ او پاکستان، سريلانکا او بنگله دېش ترمنځ يادې سيالۍ ترسره شوې، چې سريلانکا په پايلوبه کې پاکستان مات کړ او د اسيايي ټېسټ سياليو اتلولي يې خپله کړه.

لانس کلوزنر به حیث سرمربی تیم ملی کریکت تعین شد



لانس کلوزنر «الرواندر» موفق پیشین تیم آفریقایی جنوبی به حیث سرمربی تیم ملی کریکت افغانستان تعین شد. اداره کریکت بورد افغانستان بعد از به پایان رسیدن قرارداد فیلیپ سیمنز، سرمربی پیشین تیم ملی، بست وی را از طریق رقابت آزاد اعلام کرد که بعداً حدود ۵۰ تن بخاطر این بست تقاضا نامه های شان را با اداره شریک ساختند که در آن کلوزنر نیز شامل بود.

کریکت بورد افغانستان از جمله این اشخاص با همه افرادی که شرایط این بست را تکمیل کرده بودند، مصاحبه انجام داد که در نتیجه کلوزنر به حیث سرمربی تیم ملی انتخاب گردید. محترم لطف‌الله ستانکزی رییس اجراییه کریکت بورد افغانستان در این مورد گفت، پروسه‌ای که بخاطر استخدام سرمربی تیم ملی به راه انداخته شده بود، بطور خوب پایان یافت که در نتیجه آن لانس کلوزنر به حیث سرمربی تیم ملی تعین شد که موصوف برعلاوه آموزش بازیکنان ملی، تجارب خویش را با مربیان داخلی نیز شریک می‌سازد.

به گفته وی: «لانس کلوزنر در دنیای کریکت یکی از معروف ترین چهره ها میباشد، جای خوشحالی است که بازیکنان تیم ملی از تجارب وی مستفید میشوند، آن اگر به حیث بازیکن است و یا هم به حیث سرمربی تیم ملی، این که مسابقات جام اسیا و جام جهانی مسابقات بیست آوره نیز در پیشرو داریم، اطمینان کامل دارم که لانس کلوزنر در این راستا نقش بسیار مهم ایفا خواهد کرد.»

همچنان به گفته لانس کلوزنر: «این برایم یک افتخار بزرگ است که به حیث سرمربی یکی از تیمهای موفق جهان انتخاب می شوم. تیم افغانستان که همه ما آن را می شناسیم، تیم قهرمان است. باور کامل دارم که در نتیجه تلاشهای پی در پی مقام بالا را کسب خواهیم کرد. امید دارم تا تیم افغانستان را به موفقترین درجه آن برسانم و در یک کتگوری خوب قرار خواهیم داشت.»

قابل یادآوری است که لانس کلوزنر سرمربی (Level 4 certified) میباشد که در اندین پریمیر لیگ (IPL) مربی تیم ممبی بوده و به حیث مربی توپ اندازی ایفای وظیفه نموده و همچنان به حیث مربی آکادمی ملی کریکت آفریقای جنوبی نیز وظیفه انجام داده. موصوف ضمن آن به حیث مربی توپ اندازی تیم تیست آفریقای جنوبی، سرمربی دالفین فرنچایزی کریکت داخلی این کشور و همچنان در این اواخر به حیث سرمربی تیم بیست آوره آفریقای جنوبی ایفای وظیفه انجام داده است.

Rahmanullah Gurbaz

Fazal Niazai

Naveen ul Haq

د توپوهنې بڼې (Types Of Cricket Shots)

ایا غواړئ چې د کرکټ د ټولو شاټونو په تړاو سم او دقیق معلومات ولرئ؟ ایا په دې هم پوهیدل غواړئ چې کوم شاټ په کوم ډول توپ اچونه وهل کیږي؟ په دې لیکنه کې به په دې تړاو تاسې ته پوره معلومات وړاندې شي.
هر توپوهونکی د لوبې جلا انداز او تخنیک لري چې د شاټونو وهل یې له بل لوبغاړي سره ډېر توپیر کوي. په کرکټ کې شاټونه بېلابېل نومونه لري لکه د مثال په توګه پول شاټ، هوګ شاټ، کورډرایف او داسې نور. موخه دا ده چې شاټ څه شی دی؟ کله باید کوم ډول شاټ ووهل شي، کله په عادي توګه توپ ولوبول شي او کله غټ شاټ ووهل شي.
دلته یوه اړینه یادونه کوو او هغه دا چې دلته د شاټونو نومونه دي او دا انګلیسي اصطلاحات دي چې پښتو ځانګړي نومونه ورته نشته، نو ښه یې دا ده چې دا نومونه به په خپل حالت پرېږدو او په تشریح کې به یې درته روښانه کوو.

د مخکې په وسیله شاټ وهل (Front foot shots):

1_ Straight Drive
2_ Cover Drive
3_ On Drive
4_ Square Drive
5_ Forward Defence
6_ Sweep
7_ Reverse Sweep
8_ Front Foot Leg Glance

شاته پښې سره د شاټونو وهل (Back foot shots):

9_ Back Foot Drive
10_ Back Foot Defence
11_ Square Cut
12_ Pull Shot
13_ Hook Shot
14_ Back Foot Leg Glance
15_ Uppercut

نور شاټونه (Other shots):

16_ Ramp Shot
17_ Switch Hit

مخکې پښې سره شاټ وهل دي، دلته توپوهونکی مخکینۍ پښه مخکې راوړي او اکثره هغه توپونه چې په ګوډ- (Good Length) او یارکر (Yorker Length) لینټ کې توپ غورځوي مخامخ یې لوبوي چې دا شاټونه ډېره ښه پایله لري او اکثره خلوریزې پرې ترلاسه کیږي.

۱ـ مخامخ ډرایف (The Straight Drive):



دغه شاټ اکثره د هغو توپوهونکو کمال دی چې په پوره او مستقیم بېټ سره لوبه کوي. د کرکټ د ټرټولو سخته شاټونو څخه هم یو شاټ دی او د دې شاټ د لوبولو لوری د لوبغالي په ښي اړخ کې د مخامخ ویکټو خوا ته وي.
دا شاټ اکثره په هغو توپونو وهل کیږي چې توپ د منځنی او ښي اړخ ویکټو په مسیر په ګوډ او یا هم فول لینټ کې وغورځول شي. د بشپړ پوهاوي په پار همدا نوم په یوټیوب چینل کې ولټوئ او ویډیو یې ووینئ.
څنګه یې ولوبوو؟
له نومه یې ځرګندیږي چې مخکې پښه به په ویشتنځای کې مخکې راوړل کیږي، کله چې توپ په ویشتنځای ټر لګیدلو وروسته را پورته کیږي، نو ښیا د شاټ وهلو پلان جوړیږي. په دې حالت کې باید د توپوهونکي سر او مخکینۍ پښې زنګون سره برابر وي او د بېټ مخ هم مخامخ توپ اچونکي ته وي.

۲ـ د لوبغالي کور ساحه کې ډرایف (The Cover Drive) :



دا هم د لوبغالي په ښي اړخ کې یوه ځانګړې ساحه ده چې په تصویر کې درته ځرګندیږي. له نوم څخه یې ځرګندیږي چې توپ د کور په لور په مخکې پښې سره لوبول دي. دا شاټ هم تر ډېره پورې په ګوډ او فول لینټ په توپونو وهل کېږي او توپ هم د دریمې او خلورمې ویکټې په ساحه کې اچول کیږي.
د دې شاټ او سټریټ ډرایف تخنیک تر ډېره ورته دی، خو په دې وخت کې مخکې پښه د ویشتنځای ښي خوا ته کش کیږي. په دې وخت کې د توپوهونکي مخکې پښه د زنګانه په برخه کې یو اندازه قات کیږي او سر د زنګانه مخ ته راوړل کیږي. کله چې شاټ ووهل شو، د بېټ مخه د کوور توپ نیونکي په لور وړل کیږي. دا شاټونه تر ډېره پورې سټایلش دي او په دې ساحه کې مخالف لوبډلمشر خامخا یو ښه توپ نیونکی ودروي، نو ستاسې په مهارت پورې اړه لري چې څنګه وکړای شئ چې توپ د بونډرۍ په لور ووهئ.

۳ـ اَن ډرایف (The On Drive) :



کله چې تاسې په لوبغالي کې ټولي ساحې په سمه توګه وپېژنئ، نو دا شاټونه بیا تاسې سره سمه مرسته کوي. دلته موږ د اَن ډرایف خبره کوو، دا له لومړنیو دوه شاټونو سره زیات توپیر لري او توپیر یې په لوري کې دی. د مخامخ ویکټو کیڼ اړخ ته د توپ لوبول دي. دلته د میډ اَن او لانګ اَن ساحې دي او په دې خوا د توپ لوبولو ته اَن ډرایف وایي. تاسې په تصویر کې هغه ساحه په سمه توګه لیدلی شئ.
دا شاټ هم د ګوډ او فول لینټ په توپ وهل کیږي او په دې وخت کې توپ اچونکی تر ډېره پورې د دریمې ویکټې په برید توپ غورځوي چې په پیډ مخامخ راځي.
په دې وخت کې مخکې پښه بیا تر یوې اندازې پورې قات کیږي او پښه د توپ لاین او لینټ ته برابریږي. سر باید د مخکې پښې د پاسه وي، کله چې توپ لوبول کیږي، نو نظر باید د توپ اچونکي کیڼ اړخ ته واړول شي.
دلته یوه مهمه یادونه باید وشي هغه دا چې د اَن ډرایف شاټ وهلو پرمهال پوره مهارت ته اړتیا ده، خو که چېرې توپوهونکی دلته مخکې پښه رامخکې کړي او د توپ په لوبولو کې ناکام شو، نو د ایل بي ډبلیو خطر وي چې توپوهونکی پرې سوځي.

۴ـ سکویر ډرایف (The Square Drive)



په کرکټ کې دا هم د غوره شاټونو څخه یو دی، په دې شاټ کې توپوهونکی تر یوه حده پورې خطر هم په ځان قبلوي، ځکه توپ تر ډېره په څلورمه او یا هم پنځمه ویکټه غورځول کیږي او په داسې حالاتو کې که توپوهونکی پوره مهارت نه لري، نو د کیچ ورکولو خطر لري. دا چې سکویر ډرایف د لوبغالي په کوم اړخ وهل کیږي، په تصویر کې یې ښه ښودل شوي.
دغه شاټ هم په هغه توپ وهل کیږي، چې ګوډ او فول لینټ کې توپ وغورځول شي، خو له ویکټو تر یوې اندازې پورې توپ لرې وي. د دې شاټ وهلو طریقه دا ده چې لومړی د توپ تر غورځېدو وروسته ستا نظر او ذهن په توپ وي. دا شاټونه مخکې پښې سره لوبول کیږي، د توپ لاین او لینټ ته په کتلو سره به مخکې پښه همغه لور ته غځوئ، سر باید ستا د مخکې پښې د پاسه وي او مخکې پښه باید لږه قات شوې وي. په دې شاټ کې اړتیا نشته چې ستا څنګل ډېره پورته راشي، تر هرڅه ډېره مهمه ستا نظر او ذهن ملګرتیا او تر اخره په توپ نظر ساتل دي. د دې کار ګټه دا ده چې دلته لاسونه له بدنه مخکې وي، نو د کیچ ورکولو خطر زیات وي.

۵- مخامخ توپ ودرول (The Forward Defense)

توپ هغه وخت درول کېږي، کله چې توپوهونکی پوه شي د غټ شاټ په وهلو د سوځېدو خطر زيات وي. د لوبولو تخنيک يې دا دی چې مخکې پښه لږه قات کېږي او مخکې راوړل کېږي. سر د زنګانه دپاسه وي او بېټ له مخکيني پيډ سره بايد دومره نږدې وي چې د توپ وتلو امکان نه وي. ليدلي به مو وي چې ځينې توپوهونکي په دې شاټ وهلو کې ډېر کمزوري وي، هغه په دې معنی چې يا يې مخامخ ببرته توپ اچونکي ته کيچ ورکړي وي او که ټيسټ لوبه وي، نو بيا په سيلي (Silly) کې خامخا ترې کيچ وځي. دلته مهمه دا ده چې بېټ يوازې توپ ته ونيول شي که د بېټ شاته زور و، نو د توپ ودرولو پرځای هغه باونس اخلي.



٦- سويپ شاټ (The Sweep)

دغه شاټ په بشپړه توګه په مخکې پښې سره وهل کېږي، تر ډېره پورې په ورو توپ اچوونکو وهل کېږي. د دې شاټ ساحه هم معلومه ده چې د لوبغالي کين اړخ او سکوير لوبځار او ويکټ کيپره پورې ده.
سويپ شاټ هم په هغو توپونو وهل کېږي چې په ګوډ او فول لينت غورځول کېږي، خو دلته مهمه خبره دا ده چې توپ بايد د ويکټو کين اړخ ته روان وي. موخه دا ده چې د ايل بي ډبليو سوځېدلو خطر کم وي. دغه ډول شاټ وهل ځانګړې مهارتونه غواړي او تر ډېره يې هغه توپوهونکي وهلی شي چې له وړاندې يې په دې برخه کې زيات کار کړی وي. دا شاټ هغه وخت وهل کېږي چې کله يو توپ اچونکی په مخامخ او يا هم د لوبغالي ښي اړخ ته سم نه لوبول کېږي او يا هم هلته توپ نيونکي د بونډرۍ پر سر ولاړ وي.
په دې حالت کې د توپ له سرعت هم ښه ګټه اخيستل کېږي او د غلط لاين او لينت له استعمال هم، خو هغه توپ اچونکي چې ښه ټاپ سپين کولای شي او توپ يې باونس اخلي او توپوهونکي په کې تېر وځي، نو دې وخت کې توپ هوا ته پورته کېږي او د کيچ اوټ امکان وي.





۷- ريورس سويپ (The Reverse Sweep)

دغه شاټ هم د مخيکنی پښې يو مهم شاټ دی، خو د اوسني ماډرن او تېز کرکټ له امله رامنځته شوی. د سويپ شاټ برعکس وهل کېږي، معلومه خبره ده چې لوبول يې دقيق مهارت غواړي.
په سويپ شاټونو کې تر هر څه مهم د توپوهونکي درېدل او توازن ساتل دي او دا شاټ تېز نظر او تېز عکس العمل غواړي، خو ريورس سويپ تر ډېره پورې د لنډ وخت په کرکټ کې وهل کېږي.



۸- ليګ ګلانس (The Front Foot Leg Glance)

دغه شاټ هم په مخکې پښې سره وهل کېږي، دغه ډول شاټونه په هغو توپونو وهل کېږي چې غوره توپ نه وي. ليګ ګلانس د غوره توپوهونکو کمال دی او اکثره د چټکې منډې په خاطر دغه ډول شاټونه وهل کېږي.
د ليګ ګلانس په تړاو دلته مهمه خبره د مړوندونو استعمال دی چې د ان ډرايف سره يې همدا غټ توپير هم دی. او بله دا چې د ليګ ګلانس په خاطر که په ويکټه ښې خواته قدم واخلي، نو د ايل بي ډبليو خطر زياتيږي. هغه توپوهونکي چې د مړوندونو استعمال نه لري او يا هم په دې برخه کې کمزوري وي، نو په دې شاټ کې اکثره پاتې راځي.



۹- شاته پښې سره شاټ وهل (Back Foot Shots):

لکه څنګه چې له نومه يې څرګنده ده، په دې حالت کې توپوهونکی په شاته پښې سره توپ لوبوي، هغه داسې چې کله توپوهونکی پوه شي توپ يو څه اندازه په ويشتنځای تر لګېدو وروسته پورته کېږي، نو دی شاته حرکت کوي او بيا توپ لوبوي.



۱۰- بيک فوټ ډرايف (Back Foot Drive)

په کرکټ کې د په زړه پورې شاټونو يوه بېلګه ده، کله چې دا شاټ يادېږي، نو سچن ټېنډولکر خامخا سترګو ته درېږي. د دې شاټ د وهلو ساحه هم د فرنټ فوټ ډرايف ته ورته ده.
دغه شاټ په هغه توپ وهل کېږي چې د شاټ او ګوډ لينت ترمنځ غورځول کېږي چې بيک اف لينت (back of a length) يې بولي، دغه توپ په ويشتنځای تر لګېدو وروسته د توپوهونکي وجود خوا ته حرکت کوي او له دريمي ويکټې لږ بهر وي.
کله چې توپوهونکی د توپ وهنې په اراده ولاړ وي، نو په ويشتنځای د توپ تر لګېدلو پورې خپل نظر په توپ ساتي، مونږ ذکر کړه چې کله توپ په داسې ساحه کې و غورځول شي چې د وجود په لور راپورته شي، نو دلته توپوهونکی ببرته پښه شاته راولي او بيا توپ لوبوي. دلته د شاټ په وهلو کې د ډېرې ببرې اړتيا نشته کله چې توپوهونکی پوهيږي توپ مخکې پښې سره نه لوبول کېږي، نو د اړتيا پر وخت بايد ورکړل شي او د توپ په عادي شړلو سره هم خلور منډې ترلاسه کېږي.

۱۱- بیک فوټ ډیفینس(Back Foot Defence):

حقیقي خبره دا ده چې په هر شارټ پیچ توپ هم شاټ نه وهل کیږي، نو بنه لاره یې دا ده چې په دفاعي انداز ولوبول شي. که چیرې په دفاعي حالت توپ لوبول کیږي، نو توپوهونکي ته کوم زیان هم نه رسیږي. ځکه دا توپونه چې کله په سمه توګه دفاع کیږي بیرته په ویشتنځای لوبیږي چې هلته کوم توپ نیونکی نه وي ولاړ البته په ټیسټ کرکټ کې بیا ډیر احتیاط ورسره په کار دی ځکه که په سمه توګه دفاع نشي نبایي یا کین او یا هم نبي اړخ ته توپ کناره واخلي او کیچ اوټ شي.

دغه ډول توپوهنه هم د شاټ لینت او بیک اف لینت په توپونو کیږي.

د دې توپونو د لوبولو تخنیک ډیر ستونزمن نه دی، کله چې ویوهیدئ چې توپ ستا په بدن مخامخ راروان دی، نو هڅه وکړئ چې په اخري وخت کې په عادي حالت توپ ولوبوئ. که داسې مو وکړل، نو توپ به ژر په ځمکه پرېوځي او که چېرې ته دواړه پښې یوځای پورته نه کړې او په مستقیم قد سره بیټ په لړه اندازه له ځان مخکې نه کړې، نو دلته توپ درته توپ اچوی او پخپله توپ اچونکي ته کیچ ورکړې.

یوه بله یادونه هغو توپوهونکو ته چې قدونه یې ټیټ وي، که پوهیږې چې توپ ورته خطر پیښولای شي او توپ له ویکټو لرې لرې دی، غوره لار یې دا ده چې د لوبولو هڅه یې ونه کړې.



۱۲- سکویر کټ (The Square Cut):

هغه توپوهونکي چې د دې شاټونو مهارت ولري، نو تر ډېره حده منډې جوړولای شي هغه ځکه چې دا ډول توپ اچونه توپوهونکي ته زړه ورکوي چې وې لوبوي او په لوبیدو سره څلوریزه لاسته راځي.

دغه شاټ هم په هغو توپونو وهل کیږي چې په شارټ لینت یا هم بیک اف لینت کې غورځول شوی، خو دا توپ له بدن څخه لرې د ویکټو د نبي خوا په لور وایډ ته نږدې وي چې توپوهونکي یې په خلاصو متو سره په اسانۍ لوبولی شي.

که چیرې توپ باډي ته نږدې وي، نو بیا یې لوبول اسانه نه دي او توپوهونکی دې د توپ لوبولو مسیر ته تغیر ورکړي.





۱۳- پول شاټ (The Pull Shot) :

دغه شاټ هم د منډو جوړولو لپاره اسانه دی، که څه هم تر ډېره پورې د پول شاټونو په وهلو کې توپوهونکي ناکامیږي او بیا ورته د ټیټې کېدو ستونزې هم پیدا شوي، خو هر توپوهونکی د دې شاټ د وهلو هڅه کوي چې خلاصې تری نه لرې. دغه شاټ د مېډ ویکټ (Mid-wicket) او فین لیګ (Fin league) بونډریو په لور حرکت کوي.

کله چې ویوهیدئ چې توپ مخامخ ستا له بدن څخه لږ نبي اړخ ته روان دی دا توپ بیا درته خطر پیښولی شي او خطر په دې کې دی چې توپ توپ وروه په بیټ نه راځي او په وهلو سره هوا ته پورته کیږي چې اسانه کیچ به واخیستل شي.

کله چې توپ د ملا او اوږو په لور لږ را روان وي، نو دغه وخت باید پول شاټ ووهل شي او دغه توپ هم په شاټ او بیک اف لینت کې غورځول کیږي. کله چې پول شاټ وهئ، نو دلته به د توپ لاین پوره نظر ساتئ، کله چې توپ په ویشتنځای ولګیده ته به هم مخکې پښه له ویشتنځای پورته کړئ او ټول زور به په شاته پښه راولئ. بیټ باید په افقي شکل په پوره زور سره په توپ راوستل شي چې په دې سره به تاسې په کامیابۍ دغه شاټ ووهئ.

۱٤- هوګ شاټ (The Hook Shot) :

دا هم د پول شاټ په څېر د لوبغالي کېن اړخ ته لوبول کیږي او تر ډېره پورې مېډ ویکټ او فاین لیګ لورته لوبیږي.

هوک شاټ هم د شارټ او بیک اف لینت په توپونو وهل کیږي، خو له پول شاټ سره یې توپیر په دې کې دی چې دا توپ پوره د توپوهونکي په ځان را روان وي او تر اوږو لوړ وي. دغه شاټ لوبول اسانه خبره نه ده، توپوهونکی باید لومړی بې حده زیات تمرینات ترسره کړي او د دې شاټ په لوبولو ځان پوره داډمن کړي، ځکه توپ د سر په لور راځي. د لوبولو په خاطر یې مهمه ټکې دا دي چې لومړی به سترګې په توپ ساتي، د توپ لاین ته به ګوري، مخکې پښه به زر د شا په لور پورته کوي، نبي پښه اکثره وخت په هوا کې وي، خو که نظر مو له توپ واړولو نبایي د غاړې او یا هم د څټ په برخه کې په توپ وویشتل شئ. بیټ به په افقي توګه په توپ راولئ او توپ به ډېر ځان ته نه پرېږدئ ځکه که مخکې مو راګیر نه کړ او باډي ته مو زیات نږدې شو بیا یې لوبول اسانه نه دي.

یوه اړینه یادونه دلته مهمه ده چې د دې توپ په نه لوبولو ځینې توپوهونکي مړه شوي هم دي او ځینې تر دې حده ټپیان شوي چې ډیر وخت له لوبو لرې پاتې دي. یوه بله لار هم لرې او هغه دا چې توپ ونه لوبول شي.

۱۵- بیک فوټ لیګ ګلانس (The Back Foot Leg Glance) :

د منډو جوړولو لپاره غوره لار ده کله چې د غټ شاټ په لوبولو کې دربانډې ناوخته شي، نو غوره ده چې له دې طریقې استفاده وکړې دا هم د لوبغالي کېن اړخ ته لوبول کیږي. د دې شاټونو هدف د یوې، یوې منډې جوړول او له ځانه د تاثیر ختمول دي. کله چې توپ په شارټ او یا هم بیک اف لینت کې و غورځول شو او توپ وهونکی په دې وپوهید چې توپ د ویکټو کین اړخ ته روان دی، نو بیا په اسانۍ سره کولای شي دغه ډول شاټ ترسره کړي او که چیرې توپ د ویکټو نبي اړخ ته و او د دې شاټ لوبولو هڅه مو وکړه بیا هوا ته د توپ پورته کیدو خطرات زیات وي. د دې توپ د لوبولو تخنیک هم اسانه دی، کله چې د توپ لاین دې پیدا کړ، نو مخکې پښه به شاته راولې، دې وخت کې دواړه پښې یوځای کیږي، نبایي د پښې څوکې په ویشتنځای پاتې وي او نوره برخه یې له ځمکې پورته وي، دې وخت کې له تاسره دومره وخت وي چې توپ په خپل مسیر ولوبوئ.



۱٦- اپر کټ (The Uppercut) :

دغه شاټ د کرکټ په اوسني وخت کې رامنځته شوی دی، تر ډېره په شل اوریزو او یا هم لس اوریزو سیالیو کې استفاده کیږي. د منډو جوړولو لپاره ډېره بنه طریقه ده. عموما د لومړني سلیپ د پاسه د(Third Man) په ساحه کې لوبول کیږي.

دا شاټ هم د شارټ او بیک اف لینت په توپونو وهل کیږي، دغه توپ هم د ویکټو په نبي خوا غورځول کیږي او توپوهونکي بیټ تر توپ لاندې راولي او که چیرې د توپ سرعت زیات وي، نو له سرعت ګټه اخلي او یوازې ډیر قوت ته اړتیا نه وي. دلته مهم ټکی دا دی چې لومړی توپ پریږدئ چې بنه راپورته شي بیا به لوبول کیږي او که له وخت وړاندې مو د لوبولو هڅه وکړه او توپ لا پورته شوی نه وي نبایي د سوځېدو چانس مو زیات شي.

۱۶- رمپ شاټ (The Ramp Shot) :

دغه شاټ د کرکټ په وروستی لسیزه کې ډېر عام شو، ځکه تر دې وړاندې توپوهونکو یوازې مخامخ او یا هم میډ ویکټ اړخونو ته د شاټونو وهلو هڅې کولې، خو کله چې کرکټ بڼه بدله شوه، بیا پکې دغه ډول شاټونه هم دود شول، لکه دلشن چې کوم شاټ رامنځته کړ او یا هم ډیویلیرز چې کوم ډول شاټونه وهي.

دغه شاټ د توپوهونکي د ښي او کیڼ اړخ شاتنی برخې کې ډېر وهل کیږي. دغه شاټونه هم په هغو توپونو وهل کېږي چې په گوډ، فول او یارکر لینت کې غورځول کېږي. دلته توپوهونکی یوازې د توپ اچونکي د توپ له سرعت گټه اخلي او کله چې د دې شاټ هڅه کوي، نو له عادي حالت څخه یو ناڅاپه تغیر کوي او بیا توپ لوبوي. کله دغه شاټونه اسانه نه لوبول کیږي، خو دلشان، ډیویلیرز، مککلم او شفیق الله شفق بیا تر ډېره د دا ډول شاټونو وهلو هڅې کوي.

۱۷- سویچ شاټ (The Switch Hit) :

له دې شاټ څخه هدف دا دی چې یو ښی لاسی توپوهونکی په بشپړه توگه چپ واوړي او شاټ ووهي.

په دې وخت کې باید د توپوهونکي د درېدو توازن، بېټ نیول او شاټ وهل هغسې ترسره شي لکه څنگه چې دی په ښي لاس توپوهنه کوي.

دلته توپوهونکی ۱۸۰ درجې چپ اړخ ته تاویږي او بیا شاټ وهي. مثال یې کېون پیټرسن دی چې د دې شاټ په دودولو کې یې زیات کوښښ کړی دی. همدارنگه ډېوېډ وارنر هم په ښي او چپ دواړو سم شاټونه وهلی شي.

پایله

د دې لیکنې ځانگړی هدف هغو کسانو ته دی چې غواړي په مسلکي توگه توپوهنه مخ ته یوسي. تاسې ډېره هڅه وکړئ چې د توپ اچونکي لاین او لینت زر معلوم کړئ، د شاټ وهلو په طریقه ځان پوه کړئ، دا زده کړئ چې په کوم ډول توپ باید کوم ډول شاټ ووهل شي (Shot Selection)، له خپلې توپوهنې څنگه خلک اغېزمن کړئ. مینه وال د ډېرو سترو شاټونو خوښونکي هم نه وي، که کرېس گیل د کرکټ څومره مینه وال لري یا هم ډیویلرز څومره مینه وال لري، خو دا باید ومنو چې ویرات کولي تر ټولو په لوړ او ښه مقام کې ځای لري چې لامل یې د هغه د کرکټ تخنیک او دماغ دي چې هر څه په مناسب ځای کې استعمالوي.

اکرمن په شل اوریز کرکټ کې کارنامه کړې

کولن اکرمن د انگلستان په سوداگریزو شل اوریزو سیالیو (Vitality Blast) کې د لیسټرشایر لوبډلې لوبډلمشر دی. هغه د سویلي افریقې الراونډر لوبغاړی دی چې اف بریک توپ اچونه کوي. اکرمن د دې سیالیو په یوه لوبه کې د اگست په اتمه نېټه د چهارشنبې په ورځ ۷ لوبغاړي وسوځول. هغه په څلورو اوروںو کې یوازې ۱۸ منډې ورکړې.

لیسټرشایر لوبډلې پخپل کورني لوبغالي کې برمنگهم بیر(Birmingham Bears) لوبډلې ته د ۵۵ منډو په توپیر ماتې ورکړه. ښاغلي اکرمن که څه هم په توپ اچونه کې دومره غښتلی نه دی، خو هغه په دې لوبه کې د مایکل بورگس، سام هاین، وایل رودیز، لایم بنکز، الیکس تامسن، هینري بروگز او جیتن پټیل ویکټې وغورځولې.

تر دې وړاندې دغه اعزاز د مالیزیایي لوبغاړي آرول سوپیش سره و چا چې په یوه بله سوداگریزه سیالي کې د ۵ منډو په ورکولو سره ٦ لوبغاړي سوځولي و.

د روهیت شرما داسې ریکارډونه چې تر ویرات کوهلي ډېر مخکې دی

ویرات کوهلي او روهېت شرما د کرکټ په نړۍ کې دوه داسې نومونه دي چې د نیږدې ټول کرکټ مینه والو خوښ دي. دوی په یوه لسیزه کې د کرکټ داسې پوړیو ته رسېدلي چې نور لوبغاړي ښايي هیڅکله هم ور ونه رسیږي.

ویرات کوهلي چې د منډو جوړولو د ماشین لقب یې هم ګټلی ډېر ژر به د یو ورځنیو سیالیو د زیاتو منډو جوړونکو لوبغاړو په لیکه کې لومړی مقام وګټي، خو روهېت شرما چې په هیټ مین (Hit Man) شهرت لري د اوږدو، اوږدو پاټیو او زیاتو شپږیزو وهلو د قابل لوبغاړي حیثیت ترلاسه کړی دی.

له کومې ورځې چې ویرات کوهلي د هندوستان په ملي لوبډله کې ځای جوړ کړی، د یاد هېواد پر لوبغاړو سربېره یې د نړۍ لوبغاړي هم هڅولي دي چې د نوموړي په څېر خپل ځان پوره فیټ او جوړ وساتي. نوموړی په نړۍ کې لومړنی لوبغاړی دی چې په یو ورځنیو سیالیو کې یې چټکې ۱۰۰۰۰ منډې پوره کړې دي.

د نړۍ کرکټ څارونکي او پوهان وايي ویرات کوهلي لا هم د کرکټ اوږد مزل مخکې لري او دغه افسانوي لوبغاړی به نه ماتېدونکي ریکارډونه له ځانه پرېږدي.

خو په شل اوریزو او یو ورځنیو سیالیو کې د هندوستان لوبډلې مرستیال لوبډلمشر روهېت شرما بیا په سپین توپ ځیني داسې ریکارډونه جوړ کړي چې ښايي ځیني یې ټول عمر هم مات نشي او نه تر دې دمه ویرات کوهلي ور رسیدلی دی.

ریکارډونه:

۱ـ په یو نړیوال جام کې پنځه سلیزې

روهېت شرما د انګلستان او ویلز په کوربه توب د ۲۰۱۹ زیږدیز کال په نړیوال جام کې ۵ سلیزې جوړې کړې، که څه هم هغه ونه کړای شول خپله لوبډله تر پایلوبې ورسوي، خو اوسمهال یې په دوه نړیوالو جامونو کې شپږ سلیزې ثبت کړې دي. په داسې حال کې چې ویرات کولي بیا یوازې دوه سلیزې لري.

۲ـ په لومړنۍ ټېسټ لوبه کې سلیزه جوړول

روهېت شرما که په منظمه توګه ټېسټ کرکټ هم مخته یوسي او په دوامداره توګه چانس ورکړل شي ښايي د هندوستان د ډېرو بریاوو تر شا د ده لاس وي. هغه په ۲۰۱۳ زیږدیز کال کې د ویسټ انډیز پر وړاندې په لومړۍ پاڼۍ او لومړۍ لوبه کې ۱۷۷ منډې جوړې کړې، خو ویرات کولي بیا د خپلې لومړۍ ټیسټ لوبې په لومړۍ پاڼۍ کې ۴ او دویمه کې ۱۵ منډې جوړې کړې دي. دغه ریکارډ به ټول عمر ویرات کوهلي مات نه کړي.

۳ـ په یو ورځنیو لوبو کې د هندوستان لپاره تر ټولو زیاتې شپږیزې

روهېت شرما د هندۍ لوبډلې د پیل لوبغاړی دی او تر ډېره د غټو شاټونو د وهلو لوبه کوي، د هندوستان په لوبډله کې اوس مهال روهېت شرما تر ټولو مخکښ لوبغاړی دی چې زیاتې شپږیزې یې وهلې دي. هغه په ۲۱۸ لوبو کې ۲۳۲ شپږیزې وهلې دي او ویرات کوهلي بیا ۱۱۹ شپږیزې لري.

۴ـ د هندوستان غوره لیګ جامونو ګټل

روهېت شرما چې د هندوستان په تاریخ کې څلور ځله د دې هېواد د غوره لیګ سیالیو اتلولي ګټلې ده، درې ځلې یې بیا په پایلوبه کې د چینای سوپرکېنګ لوبډلې ته ماتې ورکړې ده، خو په داسې حال کې چې ویرات کوهلي تر دې دمه بیخي دغه جام نه دی ګټلی.

۵ـ په یو ورځنیو سیالیو کې غبرګې سلیزې

ویرات کوهلي د یو ورځنیو سیالیو په منډو او سلیزو کې تر روهېت شرما وړاندې دی، خو لا هم په یو ورځنیو لوبو کې غبرګه سلیزه نه لري. روهېت شرما بیا په یو ورځنیو لوبو کې درې غبرګې سلیزې لري او په یوه لوبه کې یې د ۲۶۴ منډو جوړول ښايي د کرکټ تر ټولو اوږد ریکارډ پاتې شي.

اوس مهال ویرات او روهېت د هندوستان کرکټ په ملي لوبډله کې دوه هغه نومونه دي چې د یوه په نشتون کې هم یاده لوبډله کمرنګه او کمزورې کیدای شي او دغې جوړې چې پخپلو کې سخت اختلافات هم لري د هند لوبډله ډیرو لوړو پوړیو ته رسولې ده.

د کرکټ په نړۍ کې د زیات وزن لرونکي لوبغاړي

په اوس وخت کې فټنس د کرکټ تر لوبې لومړیتوب خپل کړی، که وواېو د یوه کرکټ په مسلک کې فټنس مهمه برخه ګرځېدلې ده. له کومې ورځې چې شل اوریزه کرکټ رامنځته شوی نو د فټنس ارزښت ډېر لوړ شوی دی.
په هر صورت د کرکټ په نړۍ کې کله کله داسې شوي دي چې لوبډلو ته په غوره کولو کې د ځینو لوبغاړو یو اړخیز مهارت په نظر کې نیول شوی دی چې هغوی بیا ډېر ستر مقامونه هم ترلاسه کړي دي. په دې لیکنه کې به لس هغه لوبغاړي دروپېژنو چې وزن یې بېخي زیات و، خو ښه کرکټران پاتې شوي دي.

۱ـ انضمام الحق:

انضمام الحق څکه تر ټولو مخکې راولو چې د پاکستان په تاریخ کې هم غوره لوبغاړی پاتې شوی دی. همدارنګه د کرکټ په نړۍ کې یې ښه ریکارډونه په نوم ثبت شوي دي. نوموړي ۱۲۰ ټېسټ او ۳۷۸ یو ورځنۍ لوبې کړې دي چې په ټېسټ کې یې ۸۸۳۰ او په یو ورځنیو لوبو کې یې ۱۱۷۳۹ منډې جوړې کړې دي.

۲ـ جیسي رایډر:

رایډر چې له کومې ورځې لوبډله کې واخیستل شو، نو د نړۍ پاملرنه یې ځانته واړوله. هغه په توپوهنه او توپ اچونه دواړو برخو کې زیات وځلېده. نوموړي ته ډېره هیله مندي وه چې د نیوزلنډ کرکټ ته به زیاتي لاسته راوړنې ولري، خو د هغه زیات وزن د زیاتو لوبو اجازه ورنکړه. هغه ته به ورځ تر بلې د بدن ټیونه پیدا کېدل او بلاخره ځای ترې نورو لوبغاړو ونیو.
رایډر په ۴۸ یو ورځنیو لوبو کې ۱۳۶۲ منډې جوړې کړې وې.

۳ـ رامېش پوور:

پوور داسې وجود درلود چې د کرکټ په لوبغالي کې یې لیدلو هېڅ خوند نه کاوه، خو د هغه وړتیا وه چې د هندوستان ملي لوبډلې ته یې لار پیدا کړه . په یو دیرش یو ورځنیو لوبو کې یې ۳۴ لوبغاړي وسوځول او همدارنګه په دوه ټیسټ لوبو کې یې هم ولوبېده. دغه ۴۱ کلن لوبغاړی په دې ورستیو کې د هندوستان الف لوبډلې روزونکی ټاکل شوی دی.

۴ـ ډېرین ګوف:

نوموړی د انګلستان هېواد لپاره لوبېده، دنده یې چټکه توپ اچونه وه، په لوبغالي کې خورا احساساتي لوبېده او تر ډېره د لیوني فاسټ باولر په توګه پېژندل کېده.
د ښاغلي ډېرین ځواکمنه او دقیقه توپ اچونه (د توپ تاوول او چټکتیا) انګلستان لوبډلې ته ډېره ګټه رسولې ده.
نوموړي په ۱۵۹ یو ورځنیو لوبو کې ۲۳۵ ویکټې او په ۵۸ ټیسټ سیالیو کې ۲۲۹ ویکټې اخیستې دي.

۵ـ شېن وارن:

د کرکټ په مینه والو کې به داسې هېڅوک نه وي چې له دې افسانوي لوبغاړي سره نه وي بلد. تر راتلونکو څو نسلونو پورې به هم شېن وارن همداسې تاریخ جوړونکی لوبغاړی پاتې وي. شېن وارن چې کله کرکټ ته راغی فټنس حالت یې بېخي خراب و، د استرالیا د کرکټرانو یوه لویه مسئله د بیر او فاسټ فوډ زیات استعمال دی چې دا دواړه د انسان د چاغیدو مهم توکي دي، خو د وخت په تېرېدو سره هغه خپل حالت ته تغیر ورکړ او بیا یې نړیوال شهرت ترلاسه کړ.
نوموړي په ۱۹۴ یو ورځنیو لوبو کې ۲۹۳ ویکټې اخیستې چې په هر اور کې یې ۴.۲۵ منډې ورکړې. همدارنګه یې په ۱۴۵ لوبو کې یې ۷۰۸ ویکټې اخیستې دي او د توپ اچونې اوسط یې ۲۵.۴ دی. د نړۍ د لیګ بریک توپ اچوونکو په دله کې یوازینی لوبغاړی دی چې دومره ویکټې یې اخیستې دي.

۶ـ سمیت پټیل:

نوموړی په ۲۰۰۸ کال کې د انګلستان په لوبډله کې د یو ورځنیو لوبو لپاره شامل شو، خو د هغه خراب فټنس ډېر زر له لوبډلې بیرته وویست. د بدن د وازدو د لرې کولو لپاره یې عملیات هم وکړ، خو بیا هم په لوبډله کې رانغی. اوسمهال د انګلستان په کورنیو سیالیو کې لوبه ترسره کوي. نوموړی په کیڼ لاس ورو توپ اچونه کوله او په ښي لاس توپوهنه کوي. هغه په دوه ویشت یو ورځنیو سیالیو کې ۴۲۲ منډې جوړې کړې دي.

۷ـ ارجونا راناتونګا:

د سریلانکا دغه پخوانی لوبډلمشر د کرکټ په نړۍ کې دومره خاص ارزښت لري چې خلک یې په راتلونکو کلونو کې هم د بدیل د نه پیدا کېدو خبره کوي. په نوموړي کې د مشرۍ ځانګړي مهارتونه و، خو د هغه د خپل فټنس له وجې خراب نوم درلود.

راناتونګا په ۹۳ ټیسټ لوبو کې ۵۱۰۵ او په ۲۶۹ یو ورځنیو لوبو کې یې ۷۴۵۶ منډې جوړې کړې وې.

۸ـ ډوین لیوراک:

د ۲۰۰۷ زیږدیز کال نړیوال جام سیالۍ ښایي له ډېرو هېرې شوې وي، خو د لوراک کیچ نیول به یې په یاد وي. هغه د نامیبیا لپاره لوبېده او داسې هم ویل کېږي چې له نوموړي د ډېر وزن لرونکي لوبغاړي نه تېر شوي او نه به راشي، خو هغه چې کله د هندوستان خلاف په سلیپ کې ښي خوا ته خېز کړ او د اوتاپا کیچ یې په یو لاس ونیو، نو نړۍ یې حیرانه کړه چې د دومره وزن سره له ځای خوځېدل او بیا کرکټ کول خورا ستونزمن کار و.

۹ـ کولین میلبرن:

دغه انګرېز لوبغاړي ۱۲۱ کیلو وزن درلود. که څه هم هغه د انګلستان لپاره ډېرې لوبې ونه کړای شوې، ځکه هغه په یوه ترافیکي پېښه کې ټپي شو. هغه یوازې په نهو ټیسټ سیالیو کې ۶۵۴ منډې کړې وې چې دوه سلیزې په کې شاملې وې.

۱۰ـ میرف هویز:

هویز د کرکټ په نړۍ کې په دې ډېر مشهور و چې توپوهونکو ته به یې داسې خبرې کولې چې هغوی غوسه کړي او بیا یې اوټ کړي. اکثره توپوهونکو به ویل چې ډېر جالب ټکې به یې هم ویل، خو ټول به یې غوسه کول. هغه د استرالیا لپاره ۵۳ ټیسټ لوبو کې ۲۱۲ ویکټې اخیستې دي.

۱۱ـ راحیم راشون شین کارنوال:

د ویسټ انډیز اکثره لوبغاړي د وزن او قد له مخې خورا غښتلي دي، خو کارنوال بیا تر ټولو غټ او لوړ دی. نوموړی اوس مهال ۱۴۳ کیلو ګرامه وزن لري او د کرکټ په لومړیو کې یې وزن ۱۵۸ کیلو ګرامه و. دغه ۲۶ ویشت کلن لوبغاړي په لومړي ځل د هند پر وړاندې د ټیسټ سیالیو لومړۍ لوبه ترسره کړه او دی د توپ اچونې الراونډر په توګه په لوبډله کې اخیستل شوی چې اف بریک توپ اچونه کوي. هغه د فرسټ کلاس په ۵۵ لوبو کې ۲۶۰ ویکټې اخیستې دي چې د همدې وړتیا ښودنې پر بنسټ ټیسټ لوبډله کې هم اخیستل شوی.

که څه هم د افغانستان په لوبغاړو کې محمد شهزاد هم د زیات وزن له امله خورا مشهور دی، خو اوسمهال د کرکټ له یو کلن بندیز سره مخ دی. د دې لیکنې موخه دا نه وه چې یاد لوبغاړي وستایل شي البته د هغوی د خراب فټنس یادونه شوې ده.

په کرکټ کې فټنس تر هرڅه زیات اهمیت لري او نوي افغان ځوانان باید د لوبې له تخنیک سره ـ سره د خپل فزیکي حالت په ښه ساتلو کې زیات پام وکړي.

Need to play top oppositions more often: Rashid Khan

Rashid Khan, Afghanistan's captain across all formats of the game, believes that his team will only get better with more exposure, especially against top Test-playing nations. Khan's team Afghanistan ended their short but successful tour of Bangladesh recently on a somber note after rain washed out the final of the tri-series, involving them and hosts Bangladesh. Afghanistan had earlier stunned the hosts in the one-off Test, thereby securing their first-ever Test win against a full-fledged Test-playing nation, despite featuring in only their third Test.

«We have our domestic T20 competition this October. Afterwards, From November 5, we have the West Indies series, so there's a lot of cricket coming up.»

Afghanistan have always been a competitive team in the white-ball format of the game, but it has also been a remarkable rise in the red-ball format of the game for a team who made a rather dismal Test debut - losing by an innings and 262 runs against India in Bengaluru in 2018. Since then though, Afghanistan have taken rapid strides, beating fellow Test debutants Ireland and then stunning Bangladesh. Rashid though believes that his team needs to play top teams more often if they are to improve their game.

«We were always on track. Our performance at the World Cup was amazing. We made the games but couldn't finish it up. We lost five games in the last five or ten overs. We had the momentum and form in batting and bowling, but we couldn't finish well. It comes with more experience. We are new in this arena. The more we play, the better we will be,» Rashid said.

«We have played only twice against Australia, New Zealand and England in the last five years. We would have known their strengths and weaknesses. It should be looked into. The best example is Bangladesh. They played a lot against South Africa and ended up having the best result against them in the World Cup. If we want to be a good side, we should play more against the top sides. Not one match in four years. These teams have four fast bowlers who bowl 140-plus. We play against Scotland and Ireland, and they hardly have a 140-plus bowler,» the captain lamented.

Enthused by the team's popularity, Rashid believes that both Bangladesh and Afghanistan need to start playing more often and in longer series. «People back home want us to play more against Bangladesh. Here also people want to play against Afghanistan. We should have longer series, like have the main focus on 50 overs and Test matches. Cricket boards should think about it. There should be a three-match Test series. There's more room to learn and have different experiences. More 50 overs and Tests would be better for both nations,» he said.

On the individual front, Rashid has come a long way with the ball as well. Always known for his frugal economy and wicket-taking in the white-ball format of the game, the 21-year-old has grown leaps and bounds in Test cricket and played a starring role in the win against Bangladesh, claiming his first 10-wicket haul (5 for 55 and 6 for 49). «I never brought any difference in my bowling in any format. I try to do what I am capable of. I don't want to bring any changes to my bowling. If I bring a bit of change, I think it will affect my bowling. I always had one thing in mind in the Test match, that there will be a time when I won't get a wicket for 25 overs. There will be a time when I get three wickets in one over. Rather than putting extra pressure on myself, I should be mentally ready for this sort of thing,» he said.

Explaining the thought process further, Rashid mentioned that he spoke with some of the legendary spinners of the game and analyzed his own shortcomings, which helped him gain more focus, especially in Test cricket. «I asked Muttiah Muralitharan and Shane Warne, superstars of Test cricket, what should my mindset be in a Test match. They both told me that I shouldn't change myself, and be cool and calm in every situation. Just focus on bowling in the right line and length, rather than bring down my speed. They said that the quicker you bowl, it deceives the batsmen,» Rashid concluded.

عزیزی بانک
Azizi Bank

قرضه رفاه
RIFA LOAN

بهترین گزینه برای رشد و پیشرفت کاروبار

زنان

1515
www.azizibank.af